روزمره ژوندکی د مسائلو متعلق پر زیات معلوماتو باندې مشتمل مقبول عام مستند **تعلیم دین کورس**

TALEEM-E-DEN COURSE

پښتو

# تعلیمات اسلامی

یعنی

د دین احکامات فرائض، واجبات، سنن و مستحبات

ضروری مسنون دعاگانې او د مونځ ترجمه

حصه فقه 3

مرتب

ابو معاویه مولانا مفتی محمد ایاز صاحب


هیډ آفس
تعلیم دین کورس

جامعه تبلیغ القرآن

یوسف آباد دله زاک روډ پیښور

091-2245300
0336-9202188

website: www.tableeghulquran.com

E-mail: jamiatq@gmail.com

# فهرست عنوانات


- تعارف 7
- دین ،مذهب او شریعت 7
- د دین اسلام اهمیت او ضرورت 9
- د دین اسلام جامعیت 10
- ددین او د دنیا ګډون(امتزاج) 11
- دین او شریعت د پیژندلو ذریعے 12
- قرآن،تعارف او اهمیت 12
- دفقهےا همیت او تعارف 13
- دَ دین اهم اصطلاحات 16
  - (۱)فرض 16
  - (۲)واجب 16
  - (۳)سنت 16
  - (٤)مستحب 17
  - (٥)مباح 17
  - (٦)مکروه 17
  - (۷)حرام 17
- دَ دین فرائض 18
- د ایمان فرائض 18
- د اسلام فرائض 19
- د کلمے فرائض 19
- د عقیدو بیان 20
  - د ایمان متعلق عقیده 20
  - د اللّٰه تعالیٰ سره متعلق 20

| | |
|---|---|
| ○ د تقدیر او د اختیار متعلق | 20 |
| ○ د انبیاء کرامو او معجزاتو متعلق | 21 |
| ○ د آسمانی کتابونو متعلق عقیده | 21 |
| ○ د فرښتو او دپیریانو متعلق عقیده | 22 |
| ○ د قیامت متعلق | 23 |
| ○ د جنت او دوزخ متعلق | 23 |
| ○ دقبر حالات | 24 |
| ○ د ایصال ثواب متعلق عقیده | 24 |
| ○ دصحابه کرامو سره متعلق | 24 |
| ○ داهل بیت سره متعلق | 25 |
| ○ د ولی،ولایت او د کرامت متعلق | 25 |
| ○ دتوبې متعلق | 26 |
| ○ دتوبې شرائط | 26 |
| • دمختلفو حقوقو بیان | 27 |
| ○ په بنده باندے د اللّٰه حقونه | 27 |
| ○ د قرآن حقوق | 27 |
| ○ د رسول اللّٰه ﷺ حقوق | 27 |
| ○ د صحابه کرامو رضی اللّٰه عنهم حقوق | 28 |
| ○ د علماؤ حقوق | 28 |
| ○ د مسلمانانو حقوق | 28 |

- دطهارت بیان 30
  - د استنجاء بیان 30
  - د استنجاء طریقه 30
  - داستنجاء مکروهات 30
- اودس 31
  - دَ وضو یعنی اودس فضیلت 31
  - د اودس فرائض 31
  - د اودس سنت 32
  - د اودس مستحبات 32
  - د اودس طریقه 32
  - اودس ماتونکی څیزونه 34
  - د اودس مکروهات 34
- غسل 35
  - دَ غسل فضیلت 35
  - دَ غسل فرائض 35
  - دَ غسل سنّت 35
  - د غسل مکروهات 36
  - دَ غسل طریقه 36
  - دَ غسل موجبات 36
  - جنبي له دَ دے خبرونه بچ کیدل پکار دی 37

- تیمم 38
  - د تیمم فرائض 38
  - دَ تیمم مسنون طریقه 38
  - کومو شیزونو سره تیمم جائز دے 39
  - تیمم کله کول پکار دی 39
  - د تیمم ماتونکی شیزونه 40
  - تیمم سره شو وخته مونځونه کولے شی 40
- دحیض او نفاس احکام،زنانۀ دپاره 41
  - حیض 41
  - نفاس 41
  - دنفاس موده 41
  - د حیض او نفاس حکم 42
  - د استحاضے حکم 43
  - دپاکوالی (طُهرْ) موده 43
- مونځ 45
  - د مونځ فضیلت 45
  - د مونځ فرائض 45
  - د مونځ واجبات 47
  - دمونځ مفسدات 49
  - د مونځ مکروهات 51

- دجمعی (باجماعت د مونځ فضیلت 53
- دجمعی (جماعت مونځ په چا فرض دی؟ 53
- هغه عذرونه چه جماعت پری پریخودلی شی 54
- د ښځو او سړو مونځ کښې فرق 55

- د وتر مونځ 57
  - د وترو حکم 57
  - د وتر رکعتونه او ادا کولو طریقه 57
- د جمعے مونځ 58
  - د جمعے د ورځ رکعاتونه 58
  - د جمعے د مانځه طریقه 58
  - دجمعی د مانځه د صحیح کیدو شرائط 59
- دروزانه مونځونو درکعاتونو د تعداد نقشه 59
- صلوٰة قصر یعنی د مسافر مونځ 60
  - د قصر طریقه 60
  - سفر کښې دسنت حکم 61
- دَ تراویحو مونځ 61
  - د تراویح دَ مونځ حکم 62
  - د تراویح کولو طریقه 62
  - د مونځ مکروهه وختونه 62
- د سترے حکم 64

- قضا مونځونه 64
  - دقضاء مونځ حکم 65
  - د قضاء یو څو ضروری مسائل 65
  - دقضاء راګرځولو طریقه 66
  - قضاء عمری 67
- دشپے ورځے نفل مونځونه 68
  - دتهجد مونځ 68
  - تحیة الوضو او تحیة المسجد 68
  - د اشراق مونځ 69
  - دڅاخت مونځ 69
  - صلوٰة حاجت 69
  - صلوٰة استخاره 70
  - دَ کسوف مونځ 70
  - دخسوف مونځ 70
  - استسقاء مونځ 70
- سجده سهوه 71
  - سجده سهوه کله واجبیږی 71
  - سجده سهوے طریقه 71
  - د عمل کثیر تعریف 72
- د تلاوت سجده 73

- ○ د سجده تلاوت حکم 73
- ○ د سجده تلاوت طريقه 73
- • دجنازے مونځ 74
- • روژه 79
- • د کفارے بيان 82
- • زکوٰة 83
- • حج 85
- ○ د حج واجبات 85
- ○ د حج فرائض 85
- ○ د حج فضيلت 85
- ○ دحج سنتونه 86
- ○ د حج قسمونه 87
- ○ حج افراد 87
- ○ حج تمتع 87
- ○ حج قرآن 87
- ○ دحج تمتع طريقه 87
- • عُمره 89
- ○ دَ عمرے فضيلت 89
- ○ دعُمرےواجبات 89
- ○ دعمرے سنت 89

- ○ دعمرے کولو طریقه 89
- • قرباني 90
- ○ دَ قربانۍ فضیلت 90
- ○ قرباني په چا باندے واجبه ده 90
- • معاملات 92
- ○ دمعاملاتو شرائط او اصول 92
- • معاشرت 95
- • نکاح 95
- ○ د نکاح فضیلت 95
- ○ د نکاح شرطونه 96
- • طلاق 96
- ○ د طلاق قسمونه او دَ هغے حکم 96
- • جهاد 100
- ○ د جهاد فضیلت 100
- ○ دفرضِ عَین صورتونه 101
- ○ د فرض کفایه صورتونه 102
- • دَ مونځ ترجمه 103
- • مسنون دعاګانے 109
- ○ د دعا د قبولوالی شرائط او آداب 109

- د دعا آداب 110
- د اوده کیدلو دعا 111
- دَ بیداریدلو دعا 111
- د روټۍ خوړلو دعا : 111
- د روټۍ خوړلو نه پس دعا 111
- بیت الخلاء ته د ورتللو دعا 111
- بیت الخلاء نه د وتلو دعا 111
- په آئینه کښے د کتلو دعا 111
- د جامو اغوستلو دعا 111
- کور نه د وتلو دعا 111
- کور ته د داخلیدلو دعا 111
- جومات ته د داخلیدلو دعا 112
- جومات نه د بهر وتلو دعا 112
- د اذان نه پس دعا 112
- بازار کښے د داخلیدلو دعا 112
- مجلس نه د پاڅیدلو دعا 112
- د سفر دعا 112
- د سورلئ دعا 112
- دَ پرنجی(اینګی) دعا 112

- ○ د میاشتے لیدلو دعا 113
- ○ دتعزیت دعا 113
- ○ قبرستان ته د تللو دعا 113
- ○ د سحراوماښام لوستلو دعاګانے 113
- ایما ن مفصل 114
- ایمان مجمل 114
- کلمه طیبه 114
- کلمه شهادت 114
- کلمه تمجید 114
- کلمه توحید 114
- کلمه استغفار 114
- دعا صلوٰة حاجت 115
- دعا استخاره 115

بسم الله الرحمن الرحيم

# تعارف

## دین،مذهب او شریعت

دين وائى د ژوند مكمل نظام او دژوند دتيرولو پوره قانون او ائين ته، لهذا اسلام دين دے او مذهب صرف دعبادت طريقو ته وئيلے كيږى لكه مذهب يهوديت ،عيسائيت وغيره يا مذهب يوفقهى مسلك ته هم وائى لكه حنفى مذهب، شافعى مذهب وغيره.

لهذا دټولو انبياء عليهم السلام دين يو وو لكه الله تعالىٰ فرمائى:

**اِنَّ هٰذِهٖ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْنِ۔**(سورة انبياء:۹۲)

ترجمه: ستاسو د ټولو (په حقيقت كښے) امت (دين)هم يودے او هم څه يواځے ستاسو د ټولو رب يم نو بس زما عبادت كوئ.

او شريعت د هر قوم او پيغمبر جدا جدا وو لكه الله فرمائى:

**لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا۔**(سورة مائده:۴۸)

ترجمه: مونږ په تاسو كښے هر يو (امت) دپاره يو ه شرع(دستور العمل) او يو منهاج (طورطريقے) مقرركړى دى.

غرض داچه ټولو انبياء كرامو هم ددين اسلام تعليم وركړے دے او دين دا دے چه د يو الله په ذات او صفاتو. داخرت په جزاء او سزاء ايمان راوړل دانبياء كرام تعليمات ،دالله كتابونه منل. دخپلے

خپلې زمانے دخپلو پیغمبرانو اطاعت کول او نور د ټولو خلقو اطاعت پریخودل ، عبادات اداکول لکه مونځ روژه زکوٰة حج وغیره.
بس دهم دغه ایمان(توحید،رسالت،اخرت)دعبادت (مونځ، روژه، حج، زکات)او د معاملاتو معاشرت او تعلقاتو او دحرامو او حلالو نوم دین دے او داځیز د ټولو انبیاء کرامو په تعلیماتو کښے مشترك دے.

دویم ځیز شریعت دے یعنی هر امت او د پیغمبر دعبادت طریقے،دمعاشرت اصول خپل مینځ کښے یوبل سره دمعاملات او د تعلقاتو قوانین، دحرامو او حلالو او د جائز او ناجائز حدود وغیره جدا جدا وو لکه مونځ روژه دټولو امتونو او پیغمبرانو په دین کښے مشترك وه خو طریقه کار،اوقات، درکعاتونو تعدادوغیره په هرشریعت کښے جداجدا دي. په دغه امورو کښے الله تعالیٰ دبشر قوم اور د هرزمانے دحالاتو لحاظ کړے دے او خپلو پیغمبرانو ته ئے مختلف شریعتونه رالیږلی وو چي هریو قوم جداجدا دتهذیب او د خو اخلاقو تعلیم او تربیت حاصل کړی او د لوئی او د مکمل قانون دپیروئی دپاره تیار شي. کله چي درکار مکمل شو نو الله تعالیٰ سیدنا محمد رسول الله صلي الله علیه وسلم ته نو مکمل شریعت او یوغت قانون ورکړو چي هغه د دنیا ټولے دنیا دپاره اوس دین خو هم هغه د چي کوم مخکي پیغمبرانو خودلے وو خو شریعت (شریعت محمدي)راغلو چي هغه مخکي ځاره ټول شریعتونه منسوخ کړل او اوس دا اخری شریعت په د ټولے دنیا د پاره ترقیامت پورے برقراروی.

# ددین اسلام اهمیت او ضرورت

دانبیاء کرامو دادم علیه السلام نه جاری سلسله الله تعالیٰ په محمد رسول الله صلي الله علیه وسلم باندے مکمل کړه یعني اوس با یو نوے نبي یارسول ددے دنیا یو نوے شریعت نه راوړی او نه به بل نبي راځی. دقیامت پورے د راتلونکو پیریانو او انسانانو دپاره الله تعالیٰ هم دین اسلام چنړ کړے دے.څنګه چې الله تعالي فرمائی:

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا۔ (سورۃ المائدۃ:۳)

ترجمه: نن ما ستاسو دپاره ستاسو دین مکمل کړو. او په تاسو م خپل نعمت پورا کړو او ستاسو دپاره اسلام ددین په طور(همیشه دپاره)خوښ کړو.

غرض دا چه دانسان کامیابۍ دپاره په دین اسلام باندے عمل کول هم دا یوه لار ده لکه چې الله تعالیٰ فرمائی:

وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ۔
(سورۃ آل عمران:۸۵)

ترجمه: چې داسلام نه علاوه بل دین اختیار وکړل غواړی نو دهغه نه به هغه دین قبول نه کړی شي او په اخرت کښی به په هغه خلقو کښے داخل شي چې هغوي به سخت نقصان اوچتونکی وو.

# ددين اسلام جامعيت

ددين اسلام يوه خوبي دا ده چي دا د ژوند ټولو شعبوته شامل دے. اسلام ايمانيات،عبادات، معاملات او معاشرت غرض دا چي د ټول ژوند دپاره ئے داسے راهنمائی کړے دے چي هريو کس د څلور يشت ګهنټے ژوند يوه يوه لمحه د خالق کائنات دتعليماتو مطابق دخپل نبي کريم په طريقه باندے تيره کړے شی.

دالله تعالیٰ پيغام او د نبی کريم صلي الله عليه وسلم اسوه انتهائی په معتبر ذريعو سره ترننه پوره محفوظ ده او ان شاء الله ترقيامت پورے به الله تعالیٰ ددے حفاظت کوی. ددنيا د هيڅ مذهب هيڅ يو کتاب داسے مستند ذريعو سره محفوظ نه دے کومے ذريعے چي د قران او حديث د حفاظت دپاره استعمال کړے شوی دي.

دين اسلام کښے د خوراك څكاك تردے چي دا ستنجاء د کولو طريقه هم خودلے شوے ده.

تر دے چي په لار باندے د تلول اداب هم بيان شوی دي دالله دحقوقو سره سره د بندګانو د حقوقو د تفصيلاتو نه ئے خبردارے ورکړے دے او د هغے دادا کولو بار بار تاکيد شوے دے.دتجارت د معاشرت اصول او ضوابط بيان شوی دي. دوخت دصحيح استعمال باربار تاکيد شوے دے ځکه چي دا دناي ژوند د لوئيامتحان د تياریٔ دپاره دے او داخرت د ژوند کاميابیٔ ددے فانی ژوند په اعمالو باندے منحصر ده.

خلاصه دا چي دين اسلام ددوو څيزونو عقاءد (ايمانيات)او اعمالو نه عبادت دے. بيان په اعمالو کښے عبادات ، اخلاق، معاملات (معاشيات)او سياست او رياست داخل دی.
ګويا اسلام واضح احکامو باندے په شپږرکني نظام باندے مشتمل يو مکمل دين دے هغه شپږ رکني نظام دادے (۱)عقائد (۲)عبادات (۳)اخلاق(٤)معاملات(معاشيات)(٥) معاشرت (٦)سياست او رياست.
ددے نظام يو رکني او جزو اختيارول او نورو احکامو او د ژوند شعبے نظر انداز کول داسلام د روح خلاف دی.

# ددين او د دنيا ګډون (امتزاج)

غرض دا چي داسلام مخے ته ددنوي ترقئ او کمال سره سره اخروي سعادت او دالله د رضا حصول لازمی دے. او دا ددين او ددنيا يو قوی امتزاج دے داسلام مخے ته هم دافلسفه ده چی **رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً۔**

هم داوجه ده چي داسلام اعتقادی ، عباداتي ، اخلاقي،معاشي ، معاشرتي او سياسي نظامونه د يو دب ل نه باکل جدا کولے نشي بلکه ټول د يو بل سره لازم او ملزوم دُی.ليکن د هرعمل او د هر حکم او رکن او ددين پخټګی د عقائدو په هرصورت کښے پيوسته ده.
عقيده د ژوند ددے ټولو شعبو دپاره په منزله د بنياد ا وجرړے ده او هر عمل اا و پانيرئ او ميوے دئَ دنيوی او اخروی جزاء او بدله د عقيدے سره لازمی طور مربوط ده. که د چا اعمال،اخلاق، معاشرت، معاملات او سياست په ظاهر صحيح خکاريځو دهغه عقيده چي ددے ټول نظام دنيا د حيثيت لری. صحيح نه وي نو داټول هر څه بے فائدے او "**کبيتِ العنکبوت**" دی.

# دین او شریعت د پیژندلو ذریعے

## قران ، حدیث او فقه

ددین اسلام او د شریعت محمدی داصولو اواحکامو دمعلومولو دپاره زمونږ سره معتبر درے ذرائع دی.

(۱)قران مجید (۲)احادیث مبارکه (۳)اسلامي فقه.

قرآن پاک خو دالله تعالیٰ کلام دے او ددے الفاظ د الله تعالیٰ دطرف نه دی. درسول الله علیه الصلوٰة والسلام ټول ژونددقران تفسیر او تشریح وه نبی علیه السلام هر وخت دامت په تعلیم او تربیت کښے مصروف وو. په خپله ژبه مبارکه او په خپل عمل سره ئے خلقو ته خود نه کوله. بس داحادیثو نه مراد هغه روایتونه دی چي درسول الله علیه اسلام نه په سند سره مونږ ته رارسیدلي وی.

دقرآن په ټولو باریکو نه هر یوکس پوهه حاصلولے شی او نه د هر یوکس سره دحدیث داسے علم شته چي هغه پخپله د شریعت احکامات معلوم کړے شی.هم ددے وجے نه ددین بعضے بزرګانو (فهقاؤ) دقران او دحدیث په احکامو کښے غور دکلوون محنت او د ډیر تحقیق نه بعد دعامو خلقو د رائۍ دپاره تفصیلي قوانین مرتب کړل چي هغے ته فقه وائی.

هم ددغه محنتونو نتیجه ده چي نن په کروړونو مسلمانان بغیر د څه زحمت نه د شریعت پیروی کوي. او چاته دالله تعالیٰ او درسول علیه

الصلوٰۃ السلام داحکامات معلومولو کښې څه مشکل مخے ته نه راځی.
او دا د فهقاؤ ددین په ټولو مسلمان یو لوئی احسان دے.

## دَ فقهے اهمیت او تعارف

دَ فقهے لفظی معنیٰ پوهه ده۔ دا دَ اسلامی شریعت دریم لوئے ماخذ دے۔ فقه ،قیاس ،اجتهاد وغیره تقریباً په یوه معنیٰ کښې استعمالیږی۔ په اصل کښې فقه د قرآن او حدیث تشریح ده۔ هغه مسائل د کومو مکمل تفصیل چه په قرآن یا حدیث کښې نه وی نو فقه د قرآن او حدیث د اُصولو په رنړا کښې د دغه مسائلو حل ښائی۔ قرآن مجید کښې د الله تعالیٰ ارشاد دے:

**یَآاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اَطِیْعُوا اللّٰه وَاَطِیْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُوْلِی الْاَمْرِ مِنْكُمْ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِیْ شَیْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَی اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ذَالِكَ خَیْرٌ وَّاَحْسَنُ تَاْوِیْلاً۔** (نساء:۵۹)

ترجمه : اے ایمان والؤ! تاسو د الله او د رسولﷺ خبره منئ او په تاسو کښې چه کوم خلق دَ حُکم اهل دی د هغوی هم (منئ)۔ بیا که چرے په څه خبره کښې ستاسو خپلو کښې اختلاف راغے نو دغه خبره الله تعالیٰ او رسول ﷺ ته حواله کوئ که چرے تاسو په الله باندے او د قیامت په ورځ باندے ایمان لرئ۔دا ټول بهتر دی او د دے انجام ډیر ښه دے۔

د مفسرینو په نزد ''اولی الامر'' نه مراد اهلِ فقه دی۔

کله چه معاذ بن جبلؓ دَ یمن قاضی مقرر کړے شو نو نبیﷺ حضرت معاذ بن جبلؓ مخاطب کړو ورته ئے اوفرمائیل چه : اے معاذه! (کله چه ستا په وړاندے یو مقدمه پیش شی نو) ته به څنګه فیصله کوے؟ نو هغوی جواب ورکړو چه څنګه د الله په کتاب کښے دی۔بیا ئے ترینه تپوس اوکړو چه که چرے د الله په کتاب کښے ئے بیا نه مومے؟ (نو بیا به څه کوے) جواب ئے ورکړو چه بیا به د رسول الله ﷺ د سنت مطابق فیصله کوم۔ بیا ئے ترے تپوس اوکړو چه که چرے په سنت کښے ئے هم بیا نه مومے؟ (نو څه به کوے؟) جواب ئے ورکړو چه (په داسے صورت کښے به) زه په خپلے رائے سره اجتهاد کوم۔ په دے خبره رسول الله ﷺ خوشحاله شو او وے فرمائیل چه د الله تعالیٰ شکر دے چه هغه د خپل رسول ﷺ لیږلی شوی سړی له دهغه خبرے توفیق ورکړو کومه چه د هغه رسولﷺ ته خوښه ده۔

هسے خو دَ فقهے ډیر فضیلت دے ۔په یو حدیث مبارک کښے دی :

مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهٖ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ۔ (بخاری ومسلم)

"چا سره چه الله د خیر اراده اوکړی نو هغه ته دَ دین پوهه ورنصیب کړی۔"

دَعلمِ فقے موضوع احکامِ شریعت (اوامراو نواهی)دی چي پکښے عقائدو عباداتو معاشرت او معاملاتو وغیره احکام شامل دی البته دعقائدو اصول او بنیادی خبرے مونږ ته په قران او سنت کښے براه راست ملاویږی۔

ابتداء کښې ډیرو بزرګانو فقه په خپله خپله طریقه مرتب کړې وه خو بیان په مزه مزه څلور فقهې دین کښې پاتې شوې او نن دد نیا مسلمانان زیات تر هم ددغه فقهو پیروی کوی.

(۱) دامام ابو حنیفه فقه. چې د هغې په ترتیب کښې دامام ابویوسف امام محمد امام زفر او داسې نورو لویو لویو علماؤ مشوره هم شامل وه دیته فقه حنفی وائی.

(۲) دامام مالك فقه: په فقه مالکی په نوم سره مشهوره ده.

(۳) دامام شافعی: دیته فقه شافعی وائی.

(٤) دامام احمد بن حنبل فقه: دیته فقه حنبلی وائی.

داڅلور واړه فقهې درسول الله علیه الصلوة والسلام نه پس په دوه سوو کالو کښې دننه مرتب شوې ده په دې کښې چې کوم اختلافات موندې شی هغه بالکل قدرتی اختلافات دی. یو څو کسان چې کله په دریو معاملې تحقیق کوی یا دیوې خبرې باندې دپوهې کوشش کوی نو دحکوی په تحقیق او پوهه کښې لګ ډیر اختلاف ضروری وی.لیکن چونکه دا ټول حق پسند او نیك نیت او د مسلمانانو خیرخواه بزرګان وو. ددې وجې نه ټول مسلمانان وو. څلوروارو فقهې برحق ګنړی مونږ. داڅلور واړه فقهې برحق منو او دامام ابو حنیفه دفقهې(فقه حنفی) پیروی کؤو ځکه چې دا په دې ټولو کښې راجح او بهتره ده.

# دَ دین اهم اصطلاحات

## (Important Terms of Deen (religion)

### (۱) فرض(Obligatory):

فرض هغه کار دےکوم چه بغیر د شرعی عذر نه پریښودے نشی۔داسے کارونه مثلا مونځ بغیر د څه شرعی وجے نه پریښودونکے د سخت عذاب مستحق او فاسق جوړیږی۔ او کچرے څوك د فرضونه انکار اوکړی نو هغه کافر دے۔

فرض په دوه قسمه دی فرض عین: چی د هغے پوره کول په هر یو کس ځانله ضروری وی لکه پنځه وخته مونځونه ۔

فرض کفایه: هغه فرض چی بعضے مسلمانان ئے وکړی نو د ټولو ذمه فارغه شی لکه د جنازے مونځ اوکه هیڅ څوك ئے هم ونه کړی نو ټول به ګناهنګار وی۔

### (۲)واجب(Obligatory) :

واجب کارونه هم بغیر عذره پریښودونکے د عذاب مستحق دے،البته څوك چه د دے نه انکار اوکړی نو هغه فاسق دے،کافر نه دے۔ د واجب آسان مثال د ماسخوتن درے رکعته وتر دی۔

### (۳) سنت (Sunnah) :

سنت هغه کارونه دی کوم چه حضورﷺ یا صحابه کرامو رض کړی دی۔ د دے دوه قسمه دی یو سنت مؤکده د کوم د کولو چه تاکید دے

او بغیر عذره پریښودونکے او د پریښودلو عادت جوړونکے ګناه ګار او فاسق دے۔دویم قسم سنت غیر مؤکده دے چه د هغے په کولو باندے ثواب ملاویږی او په پریښودلو کښے ئے ګناه نشته۔

## (٤)مستحب (Recommended):

مستحب هغه کارونه دی چه د هغے په کولو باندے ثواب ملاویږی او په نه کولو ئے هیڅ قسم ګناه نیشته ،دے ته نفل هم وائی۔

## (٥)مباح (Premissible) :

هغه کار چه د هغے په کولو یا نه کولو کښے بنده ته اختیار وی۔ او په کولو او نه کولو کښے ئے هیڅ ثواب او عذاب نه وی۔

## (٦)مکروه (Disapproved) :

د مکروه معنیٰ ده ناخوښه۔د مکروه کارونو هم دوه قسمه دی یو مکروه تنزیهی چه د هغے په نه کولو کښے ثواب وی او په کولو کښے ئے ګناه نهٔ وی۔ دویم قسم مکروه تحریمی دے چه د هغے بغیر عذره کونکے ګناه ګار او فاسق دے۔

## (٧)حرام (Prohabited):

حرام هغه کارونه دی چه د هغے کونکے فاسق او د سخت عذاب مستحق دے لکه شراب څکل وغیره۔ حرام کارونه حرام نه ګنړونکے کافر دے۔

# دَ دین فرائض

## (Fundamentals of Deen (religion)

دَ دین فرائضو نه مراد دَ دین اسلام نچوړ،خلاصه،فلسفه او مکمل نظامِ حیات دے۔ څرنګ چه د دین احکام مونځ،روژه،حج وغیره کښے فرائض وی همدغه شان پوره دین کښے هم دا لاندینی شپږ فرائض دی.

(۱)عقائد (۲)عبادات (۳)اخلاق

(٤)معاملات (٥)معاشرت (٦)سیاست او ریاست۔

# د ایمان فرائض

## (Fundamentals of faith) or (Islamic beliefs)

دَ ایمان لفظی معنیٰ یقین او تصدیق دے او د شریعت په اصطلاح کښے د لاندینو خیزونو په ژبے سره اقرار کول او په زړه سره په هغے باندے یقین لرلو ته ایمان وائی۔ دَ ایمان فرائضو نه مراد دا لاندینی شپږ خیزونه دی:

(۱) په اللّٰه ایمان (۲)په فرشتو ایمان (۳)په اسمانی کتابونو ایمان

(٤)په رسولانو ایمان (٥)په آخرت ایمان (٦)په تقدیر ایمان.

# دَ اسلام فرائض

**(Fundamentals of Islam)**

دَ اسلام فرائض یعنی ارکانِ اسلام پنځه دی او د بعضو عالمانو په نزد شپږ دی.

(۱) کلمه طیبه (۲) مونځ (۳)روژه (٤)حج

(٥)زکوٰة (٦) بعضو عالمانو شپږم رکن جهاد ذکر کړے دے۔

# دَ کلمے فرائض

**(Fundamentals of Kalma)**

دَ کلمے اووه(۷) فرائض دی۔

(۱) کلمه وئیل

(۲) الفاظ ئے صحیح کول

(۳) د کلمے معنیٰ(ترجمه) زده کول

(٤) د کلمے تشریح او وضاحت باندے ځان پوهه کول

(٥) په کلمے عقیده لرل

(٦) په دے باندے عمل کول

(۷) بیا د دے دعوت ورکول۔

# دعقیدوبیان

## دایمان متعلق عقیده

ایمان هله صحیح او معتبر دے چه کله انسان الله تعالیٰ اودهغه رسول په ټولو خبرو کښے ریښتینی اوګڼړی او وی منی، د الله او درسول په یو خبره کښے شک کول، هغه دروغ ګڼړل ، په هغی کښے عیب راویستل یا هغے پورې ټوقی کول دی ټولو خبرو سره ایمان ختمیږی۔

## دالله تعالیٰ سره متعلق

دهر یو څیز یو صانع او پیدا کونکے وی. د دے کائناتو پیدا کونکے هم موجود دے چي هغه الله وحده لا شریك له دے. هغه په خپل ذات او صفاتو کښے یکتا دے. دهغه مثل هیڅ څیز نشته. هغه دچا محتاج نه دے ټول دهغه محتاج دی. دهغه څوك برابر او شریك نشته. هغه د همیشه نه دے او همیشه به وی. ټول صفات کمالیه سره متصف او دصفات ناقصه نه منزه او پاك دے. په عرش باندے دخپل شان مطابق مستوی دے.

## دتقدیر او داختیار متعلق

دنیا کښے چي څه هم کیږی هغه دالله په علم کښے دمخکی نه موجود دی. دیته تقدیر وائی البته الله تعالیٰ بنده ته پوهه او اختیار ورکړے دے چی په هغے سره افعال ادا کوی . هم ددے وجے نه بنده ته ثواب او عذاب ورکړے کیږی. ثواب به دالله د حکم مطابق کام کولو

باندے او عذاب به دالله د حکم نه په خلاف کولو باندے ورکولے شی. او دارنګ الله تعالیٰ د داسے کار حکم نه کوی چی د بنده دطاقت نه بهر وی.

## دانبیاء کرامو او معجزاتو متعلق

الله تعالیٰ دخپلو بندګانو دصحیح راهنمائی دپاره انبیاء کرام رالیږلی دی چی هغه ټول انسانان او معصوم دی. دهغوی صحیح تعداد الله مونږ ته نه دے خودلے. دټولو نه اولنے پیغمبر ادم علیه السلام او د ټولو نه اخری پیغمبر حضرت محمد رسول الله علیه الصلوٰة والسلام دے د ټولو نه افضل زمونږ پیغمبر دے مونږ به دا عقیده لرو چي الله تعالیٰ څومره پیغمبران رالیږلی دی په هغه ټول زمونږ ایمان دے. ددغه پیغمبرانو د نبوت د تصدیق دپاره الله تعالیٰ دهغوی په لاسونو څه داسے ناشنا او عجیبه ظاهر کړے چي هغه نور خلق نشی کولے دغے ته معجزه وائی. دنور پیغمبرانو پشان الله تعالیٰ زمونږ پیغمبر ته هم ډیرے معجزے ورکړے دی په هغے کښے قران او اسراء او معراج لوئی معجزے دی.

## دآسمانی کتابونو متعلق عقیده

اللهتعالیٰ ډیرکتابونه دجبرئیل په ذریعه مختلفو پیغمبرانو باندی رالیږلی دی چه دهغے په ذریعه هغوی خپلو امتونو ته ددین خبری او احکام ښودل۔ په هغے کښے څلور ډیر مشهور دی تورات په موسیٰ ؑ باندے نازل شوے وو انجیل په عیسیٰ ؑ باندی نازل شوے وو زبور په

داؤدؑ باندی نازل شوے وو قرآن مجید زمونږ په پیغمبر محمد ﷺ باندی نازل شوے دے۔ قرآن د الله تعالیٰ آخری کتاب دی چه ددے نه پس به بل کتاب دآسمان نه نه راځی ۔قیامته پوری به د قرآن حکم چلیږی په نور کتابونو کښے ګمراهه خلقو ډ یری تبدیلی کړیدی لیکن د قرآن د حفاظت وعده الله تعالیٰ پخپله کړے ده په دی کښے هیڅ څوك هیڅ قسم تبدیلی نه شی کولی۔

## دفرښتو او د پیریانو متعلق عقیده

اللّٰہتعالیٰ یو مخلوق دنورنه پیدا کړے دے او زمونږ دنظرونو نه ئی پټ ساتلی دی هغے ته فرښتی وائی فرښتی د اللّٰہتعالیٰ دطرف نه د کائناتو د تدبیر متعلق په ډ یرو کارونو باندی مامور او مکلف دی هغوی کله هم داللّٰہ تعالیٰ دیو حکم مخالفت نه کوی الله تعالیٰ چه ورته کوم کار حواله کړی دی په هغی کښے مشغوله دی څلور پکښے ډ یر مشهور دی جبرائیل، اسرافیل، عزرائیل(ملک الموت) او میکائیل علیهم السلام۔

دغه رنګ الله تعالیٰ یو بل مخلوق د اور نه پیدا کړی دی چه هغه هم مونږ ته نه ښکاری هغے ته پیریان وائی په پیریانو کښے نیکان بدان هر قسم پیریان شته د هغوی اولادهم کیږی ۔ په دوی کښے مشهور او ډ یر شرارتی ابلیس یعنی شیطان دی۔

## دقيامت متعلق

دا كائنات يوه ورځ ختميدونكے دے. په دغه ورځ به ټول مخلوقات مړه شي تردے چي اسرافيل چي د قيامت شپيلئ به پوك وهي هغه به هم مړشي. يو مدت به هم په دے كيفيت سره تير شي بيا به الله تعالیٰ ټول راژوندی كړی.او د نيك او بدو اعمالو بدله به وركړے شي.ددغے وراځے څه معلوم وخت نشته البته بعضے نخے نبي كريم صلی الله عليه وسلم بيان كړی دی هغه به ضرور پوره كيږی په هغے كښے څه وړے او څه غټے نخے دی.چي كله خلق دوباره راژوندی شی نو د تكليف او سختي دوجے نه به سفارش دپاره پيغمبرانو له ورشی. اخر كښے به زمونږ پيغمبر د حساب شروع كولو دپاره سفارش وكړی. بيان به تله نصب كړے شي او دجزاء او سزا عمل به شروع شي. علمنامے به تقسيم شي نيكان به جنت ته لاړشي او بدان به جهنم ته.

## دجنت او دوزخ متعلق

جنت اودوزخ دمخكي نه پيدا كړے شوی دی . ددنيا نه چی څوك داسلام په حالت كښے لاړو هغه به ضرور جنت ته ځي. او څوك چی دكفر په حالت كښے لاړ هغه په دوزخ ته ځی. بعضے ګناهګار مسلمانان به هم داخپلو ګناهو سزا څكلو دپاره دوزخ ته لاړشي بيا چي الله تعالیٰ وغواړی واپس به ئے راوباسی. دا رنګ الله تعالیٰ چی چاله معاف كول غواړی نو د هغه خپل اختيار دے خو دكفر او شرك باره كښے الله تعالیٰ صراحت كړے دے چی دا نه معاف كيږی. لهذا كافر او

مشرك به همیشه دوزخ کښې وی. جنت کښې جنتیانو ته د هغوی د درجو مطابق بدلے ملاویږی او د الله تعالیٰ دیدار به ورته هم نصیب شی.

## دقبرحالات

کله چې یو کس مړ شی نو قبر کښے ئے خواله دوه فرشتے راځی او درے تپوسونه ترے کوی که جواب ئے ټهیك ورکړو نو هرقسم ارام وسکون ورته به ملاوشی او که غلط جواب ئے ورکړو نو ترقیامة پورے به په ډیره سختئ او عذاب کښے وی. دیته عذاب برزخ یا عذاب قبر وائی دابه د قیامة پورے جاری وی.

## دایصال ثواب متعلق عقیده

دعا صدقه او خیرات اوهر قسم عبادت فرض، واجب وی یا نفل یو مړ(یاژوندی) ته د ثواب رسولو په نیت اوکړے شی نو هغه ته ئی ثواب رسی۔ او ډ یر ه فائده ورته کیږی۔البته بعینه هغه څیز نه رسی د کوم چی صدقه وکړئ شی . لکه څنګه چې بعضے جاهل خلقو عقیده ده بلکه دهغے ثواب ورته رسی.

## دصحابه کرامو سره متعلق

چاچی زمونږ پیغمبر د اسلام په حالت کښے لیدلے دے او د اسلام په حالت کښے مړ شوے دے هغه ته صحابی وائی. صحابه کرام اګر چه معصوم نه دی خو مغفور دی الله تعالیٰ دهغوی دخپلے رضا مندی اظهار کړے دے لهذا د ټولو صحابو باره خه یقین ساتل پکار

دی . دهغوی سره محبت او دهغوی باره کښې خه ګمان ساتل ضروري دی. که چرته دهغوی په خپلو کښې د جنګ جګړےخبره په اوریدو کښې راشی نو یا خو ښئ هغه تاریخی دروغ وی یا به مونږ هغه خطا ګڼړو. او هغوی پسي بدرد وئیل جائز نه دی. دفضیلت په اعتبار د صحابو کرام درجے دی د ټولو نه زیات فضیلت د څلورو خلفاؤ دے د صحابی دومره لویه مرتبه ده چی هیڅ یو انسان بلکه لوئی نه لوئی ولی هم دیو ادنی صحابی د درجے برابر نشی کیدے.

## داهل بیت سره متعلق

درسول الله علیه الصلوٰة والسلام اولاد او امهات المؤمنین رضی الله عنهم ټول د تعظیم لائق دی. اولاد کښې د ټولو نه لویه مرتبه د حضرت فاطمه الزهراء رضي الله عنها ده او بیبیانو کښې دخدیجے او د عائشه رضی الله عنهما ده.

## دولی، ولایت او د کرامت متعلق

کله چی یو مسلمان په شریعت عمل او د پیغمبر اطاعت کوی نو هغه د الله دوست جوړ شی بیاورته ولی وئیلے کیږی. د ولی نه کله کله د عام عادت نه خلاف څه کار صادریږی چي هغے ته کرامت وائی.په دے کښې د ولی ذره برابر هم اختیار نه وی.کله کله ولی ته بعضے د راز خبرو دالله د طرف نه په خوب یا بیدارئ کښې علم ورکړے کیږی چی هغے ته کشف او الهام وائی. کښ داخبرې د شریعت مطابق عی نو بیان خو قبول دی عیني انکار ته ئے ضرورت نشته. اوکه شریعت نه خلاف وی

نو مردود دی. كه څوك د شريعت خلاف كار كوی نو داولی نشی كيدے. ولی باندے هم د شريعت او نه ورته ګناه اجازت ملاويږی. كه د شريعت نه خلاف عمل كونكی كس په لاس د عادت نه خلاف څه كار صادر شی نو داكرامت نه بلكه جادو. شيطانی چال يا مسحر يزم وغيره وی. هيڅ يو ولی چې څومره دلوئے درجے ولے نه وی ديو ادنی درجے صحابی ته نشی رسيدلے.

## دتوبې متعلق

انسان چه په عمر( ژوند) كښے كله هم توبه اوباسی يا يو كافر مسلمان شی نو اللهتعالی ئې قبلوی البته دمرګ په وخت كښے دساه وتلو او دعذاب فرښتو لره ليدلو په وخت نه توبه قبليږی اونه ايمان۔

## دتوبې شرائط

دتوبې د قبوليت څلور شرطونه دی۔(۱)دګناه پريښودل (۲) په كړی ګناه باندے پيښمانه كيدل(۳)آئنده دګناه نه كولو كلكه اراده او عزم كول۔(٤) كه دغه ګناه سره ئې د بندګانو حقونه ضائع كړی وی نو هغه ادا كول يا په هغوی باندے ئې معاف كول۔

# دمختلفوحقوقوبیان

## په بنده باندے داللّٰہحقونه

(۱) په اللّٰه باندے ایمان راوړل دهغه وجود، توحید، اسماء او صفات منل(۲) خالص دهغه عبادت کول(۳) په هغه باندے توکل کول (٤) دهغه په دین باندے عمل او کلکوالی(٥) د اللّٰه سره محبت کول (٦) ټول عبادات یوائی دهغه دپاره کول بغیر د ریاکارئ نه (۷) دهغه د دین دفاع ، اقامت او تبلیغ کول (۸) دهغه د دوستانو سره محبت کول او دشمنانو سره نفرت کول۔

## دقرآن حقوق

(۱)ایمان پرے راوړل (۲) الفاظ ئے زده کول او تلاوت ئی کول (۳)د خپل وس مناسب ټول یا څه حصه په یا دو یا دول (٤) غور او فکر ( تدبر) پکښے کول (٥) په معنی ئی ځان پوهه کول (٦) عمل او فیصلی پرے کول (۷) عزت او تعظیم ئی کول (۸) دعوت او تبلیغ ئی کول.

## درسول اللّٰهﷺ حقوق

(۱) د رسول اللّٰه ﷺ رسالت او نبوت باندے ایمان راوړل (۲) د هغه ختم نبوت منل (۳) دهغه اتباع او اطاعت کول (٤)دهغه په شان کښے غلو(افراط او تفریط) نه کول (٥) دهغه عزت او تعظیم کول (٦)دهغه سره او دهغه آل اولاد، بیبیانو او صحابه کرامو سره محبت کول (۷)په هغه باندے دورد وئیل (۸)دهغه په طریقو عمل کول (۹)

دهغه دحالاتو او سیرت نه ځان خبرول (۱۰) دهغه د ناموس او دین حفاظت او دفاع کول۔

## دصحابه کرامو رضی اللّٰه عنهم حقوق

(۱)دهغوی تعظیم اوعزت کول. (۲) دهغوی اقتداء کول.
(۳)د هغوی سره محبت ساتل. (٤) دهغوی خه تذکره کول .
(٥)دهغوی بد نه وئیل. (٦) دهغوی دفاع کول.
(۷) دهغوی مبغضینو سره بغض ساتل.

## دعلماؤ حقوق

(۱) دهغوی تعظیم او عزت کول.
(۲) دهغوی نه ددین مسائل ازده کول.
(۳)دهغوی غیبت او هغوی پوری ټوقی خندا نه کول.
(٤) په هغوی باندے خه ګمان کول.
(٥) دهغوی دپاره ددین د خدمت او توفیق دعا کول.
(٦) په حق کښے د هغوی خبره منل او عمل پرے کول.

## دمسلمانانوحقوق

(۱)مسلمان پورے ټوقے، مسخرے او خندا نه کول.
(۲) نقصان او تکلیف ورته نه رسول.
(۳) بی ځایه بدګمانی پرے نه کول.
(٤) پرده پرے اچول.
(٥) سلام پرے اچول او دسلام جواب ورکول.
(٦)جائز دعوت ئې قبلول.

(۷) د مسلمانانو په مینځ کښې ورور ولی او اتحاد پیدا کول.

(۸)خیر خواهی ئې لټول.

(۹) جنازه پرے کول.

(۱۰)چې بیمارشی تپوس ئې کول.

(۱۱) چه پرنجې اوکړی یرحمک الله ورته وئیل.

(۱۲)جائز او شرعی ضرورت ئې پوره کول.

(۱۳) امر بالمعروف او نهی عن المنکر ورته کول۔

# دطهارت بيان

## (Purification)

### د استنجا بيان

د وړومتيازو يا د کو متيازو نه پس چه کومه پاکی کولے شی په شريعت کښے هغے ته استنجا وائی۔

### د استنجا طريقه

د استنجا بهتره طريقه دا ده چه د وړومتيازو يا د کو متيازو ځائے مخکښے په لوټه ياټشو وغيره سره صفا کړے شی او بيا په اوبو سره اوينځلے شی۔ که چرے وړے متيازے يا د کے متيازے د خپل ځائے نه خورے نشی نو صرف په لوټے سره هم پاکی صليږی ليکن حتی الامکان داسے نه دی کول پکار او کچرے د خپل ځائے نه د يوے روپئی په مقدار سره خورے شوے وی نو بيا په اوبو سره وينځل ضروری دی۔

صفا خاورے، کاڼرے يا دکچه ښختے ټکړو سره استنجا کولے شی خو په شرط د دے چه اوبو کښے لمدے نه وی۔

### داستنجاء مکروهات

(١)دقضاء حاجت دوران کښےخبری کول بغير دعذر نه (٢) قبلی طرف ته مخ يا شاکول (٣)څه په داسے ځائے کښے استنجاء کول چي د

چا درباندے دنظر لګیدو خطره وی(٤) بغیر د عذر نه په ښی لاس استنجاء کول (٥) بغیر د عذر نه په ولاړه میتازی کول.

# اودس

## (Ablution)

دَ وضو مطلب خو دے دَ روښانه مخ والا،لیکن په شریعت کښے د بدن خاص حصے دَ یو خاص قاعدے مطابق وینځلو ته وضو(اودس) وائی۔

## دَ وضو یعنی اودس فضیلت

دَ حضرت عثمانؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: چه کوم مسلمان اودس اوکړو او (د مسنون طریقے مطابق ئے) په ښه شان سره اودس اوکړو نو د هغه ټول ګناهونه به اوځی تر دے پورے چه د نوکونو د لاندے نه هم،یعنی اودس کولو سره واړه ګناهونه معاف کیږی۔

## د اودس فرائض

په اودس کښے څلور فرض دی:

چی په دے کښے یو هم پاتے شی یا پوره ونه وینځلے شی نو اودس نه کیږی۔(١)مخ وینځل د تندی ویښتو نه تر زنے پورے او د یو غوږ نه تر بل غوږ پورے ځائے وینځل۔(٢) دواړه لاسونه سره دَ څنګلو وینځل(٣) د څلورمے حصے سر مسح کول(٤) دواړه خپے سره دَ ګیټو وینځل۔

## د اودس سنت

په اودس کښے دیارلس سنتونه دی۔

(۱)نیت کول(۲) بسم اللّٰه لوستل(۳) ړومبے درے ځله مړوندونو پورے لاسونه وینځل(٤) مسواک کول(٥) درے ځله خوله کنګالول (٦) درے ځله پوزه کښے اوبه اچول (۷) د ګیرے او د لاسونو او دخپو د ګوتو خلال کول (۸) د ټول سر مسح کول(۹)د دواړو غوږونو مسح کول.(۱۰) هر اندام درے درے ځله وینځل(۱۱) ترتیب سره اودس کول (۱۲) پرله پسے اودس کول(۱۳) د ښی طرف نه شروع کول۔

## دَ اودس مستحبات : دا لاندینی دی۔

(۱)په اودس کښے قبلے ته مخ کول(۲) په اوچت او پاک ځائے باندے کیناستل (۳) د اودس کار پخپله کول،بل چانه مدد نه اخستل(٤)هر اندام په وینځلو کښے مخښل (٥) د څټ مسحه کول (٦) پاتے شوے اوبه په ولاړه څکل۔

**دَ اودس طریقه :** کله چه دَ اودس کولو اراده وی نو په زړه کښے د دے نیت کول پکار دی۔ بیا بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم لوستلو نه پس دِ درے ځلے خوله کښے اوبه واچوی ،خوله دِ کنګال کړی، بیا دِ مسواک اوکړی،که مسواک نه وی نو ګوتے سره دِ غاښونه صفا کړی او په خوله کښے دِ اوبه واچوی غړغړه دِ اوکړی۔ د پاره دَ دے چه حلق پورے خوله ئے صفا شی لیکن په روژه کښے غړغړه کول نه دی پکار۔

خولے کنګالولو نه پس دِ درے ځلے په پوزه کښے اوبه واچوی او دَ
ګس لاس په کچے ګوتے دِ صفا کړی،بیا دے نه پس دِ درے ځلے مخ
اوینځی۔د مخ وینځلو مطلب دا دے چه د تندی ویښتو نه واخله تر
زنے پورے او د یو غوږ دَ نرمو نه د بل غوږ نرمو پورے چه څومره
حصه ده هغه ټوله دِ درے ځلے اُوینځی،که چرے ګیره ئے ګڼړه وی نو
په ګوتو سره دِ هغے کښے خلال اوکړی د پاره د دے چه د ویښتو
بیخونو پورے اوبه اورَسی،بیا دِ دواړه لاسونه سره دَ څنګلو درے ځلے
اُوینځی ،مخکښے دِ ښے لاس بیا دِ ګس لاس اوینځی ۔که چرے په
لاس کښے ئے ګوتمه وی یا د ښځو په لاس کښے بنګړی وی نو د هغے
خوزول پکار دی،دَ پاره د دے چه لاندے پورے اوبه اورسی ،دَ دے
سره دِ د دواړو لاسونو ګوتے په یو بل کښے ورکړی او خلال دِ اوکړی ،
بیا دِ یو ځل د ټول سر مسح اوکړی،بیا دِ د غوږ مسح اوکړی، بیا دِ دِ
څټ مسح اوکړی ،د څټ مسح ضروری نه ده د مسحے نه پس دِ دواړه
خپے تر ګیټو پورے درے ځله اُوینځی ۔ په دے کښے دِ هم دَلاسونو په
شان مخکښے ښئ خپه اوینځی بیا ګسه۔او د خپے ګوتو په مینځ کښے
دِ دَ لاس وړه ګوته ورکړی او خلال دِ اوکړی د پاره د دے چه اوبه د
ګوتو مینځونو ته اورسی۔

## اودس ماتونکی څیزونه

قاعده: دبدن نجس څیز وتل یا د هغے دپاره سبب جوړیدل، نجس څیز لکه وینه متیازے نورځه وغیره . او سبب لکه هواوتل . خوب ، لیونتوب وغیره.

تفصیل: کومو څیزونو سره چه اودس ماتیږی هغه آته دی(۱) تشے متیازے،ډکے متیازے یا د دواړو لارو نه بل یو څیز وتل۔ (۲) ریح یعنی هوا د روستو نه وتل(۳) دَ بدن د کوم ځائے نه وینه یا پیپ وغیره وتل او بهیدل۔ (٤) په ډ که خوله قے کول (٥) څملاستلو سره یا ډ ډے لګولو سره اوده کیدل(٦) بیمارئ یا بلے څه وجے سره بیهوشه کیدل(۷) مجنون یا لیونے کیدل(۸) مونځ کښے په بړق بړق خندل۔

**د اودس مکروهات :** یعنی هغه کارونه چه اودس خو ورسره نه ماتیږی لیکن داسے کولو سره یا خو ګناه کیږی یا ثواب کمیږی۔

(۱)په ناپاکه ځائے باندے اودس کول۔(۲) بنی لاس سره پوزه صفا کول (۳) په اودس کښے دنیاوی خبرے کول (٤) دَ سنت نه خلاف اودس کول(٥) د ترتیب وغیره خیال نه ساتل(٦) اوبه د ضرورت نه زیاتے لګول(۷) په اندامونو باندے زور سره اوبه اچول(۸) د دریونه زیات ځلے وینځل (۹) ګس لاس یا خپه مخکښے وینځل۔

# غسل

## (Bath)

په لغت کښې ټول بدن وينځلو ته غسل وائی۔لیکن په شریعت کښې دَ جنابت دحالت په وجه ناپاکی لرے کولو یا ثواب حاصلولو د پاره خاص طریقے سره ټول بدن وینځلو ته غسل وئیلے کیږي.

## دَ غسل فضیلت

حضرت انس رضی الله عنه ته نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اے اَنَسه رضی الله عنه ! ته دَ غسل کولو نه پس دَ حمام نه لا وتلے نه ئے چه اللّٰه تعالیٰ ستا ټول ګناهونه معاف کړی۔

## دَغسل فرائض

په غسل کښے درے څیزونه فرض دی۔

(۱) خوله کنګالول (۲) پوزه کښے اوبه اچول

(۳) په ټول بدن باندے اوبه بهیول .

## دَ غسل سنت

په غسل کښے پنځه څیزونه سنت دی۔

(۱)دَ ناپاکئ لرے کولو نیت (۲) دواړه لاسونه مړوندونو پورے وینځل

(۳)استنجا کول او ګندګی وینځل(٤) د غسل نه مخکښے اودس کول

(۵) په ټول بدن باندے درے ځلے اوبه بهیول۔

## دغسل مکروهات

(۱) قبلې ته مخ کول (۲) بے ضرورته خبرې کول

(۳) اوبه د حد نه زیاتې یا د حد نه کمې استعمالول۔

## دَ غسل طریقه

اول دے په زړه کښے دَ غسل کولو نیت اوکړی بیا دے دوړاه لاسونه دمړوندونو پورې اووینځی بیا دے استنجا اوکړی او د بدن په کوم ځائې چه نجاست وی هغه دے پاک کړی، بیا دے اودس اوکړی ، بیادے درې ځله په سر باندې او به واچوی او په لاس سره دې اومږی ، بیا دے درې ځله په ښئ اوګه باندې او درې ځله په ګسه اوګه باندے په داسې طریقے اوبه واچوی چه په ټول بدن باندے او بهیږی او لوند شی۔

## دَ غسل موجبات

یعنی کومو څیزونو سره چه غسل فرض (واجب) کیږی هغه دا لاندینی صورتونه دی۔

(۱) په شهوت سره دَ بنیادم دبدن نه منی راوتلو سره خواه که هغه د مباشرت په ذریعے سره وی یا په بلے څه ذریعے سره وی۔

(۲) چه د شپے یا دَ ورځے احتلام اوشی، خواه کښۓ خوب ئے لیدلے وی او که نه ئے وی لیدلے۔ که چرے خوب ئے اولیدو چه احتلام راته اوشو لیکن په جامه وغیره باندے هیڅ علامت نه وی نو غسل ضروری نه دے۔

(۳) که چرے دَ سړی د متیازو ځائے د ښځے شرمګاه کښے داخل شی نو که منی اوځی او که اونه ځی په ښځه او سړی دواړو باندے به غسل فرض کیږی۔

(٤) چه ښځے ته حیض یا نفاس راشی نو دَ هغے ختمیدلونه پس غسل فرض دے۔ (دَ حیض او نفاس بیان مخکښے راروان دے) چا باندے چه غسل فرض وی هغه ته جُنبی وائی۔

## جُنبی له دَ دے خبرونه بچ کیدل پکار دی

کله چه چا باندے غسل فرض شی نو د دے خبرو نه بچ کیدل پکار دی:

(۱) قرآن پاک له لاس اوړل یا قرآن لوستل یا دَ قرآن کوم آیت لیکل

(۲) سجده کول یا مونځ کول۔

(۳) جومات ته بغیردَ سخت ضرورت نه تلل۔

(٤) بغیر دَ غسل نه دِ دَبیت الله طواف هم نه کوی ۔

نوټ: بے او دسه سړی ته زبانی دَقرآن لوستلو اجازت شته دے لیکن قرآن له لاس نشی اوړلے ، او جُنبی له زبانی قرآن هم لوستل نه دی پکار ،البته که چرے د قرآن وړوکے آیت دَدُعاپه طور اوائی نو هیڅ حرج نیشته۔

# تیمم

## Tayam-mum (Cleansing with clay)

دَ تیمم لغوی معنیٰ اراده او قصد کول دی او په شریعت کښے پاکه خاوره یا کوم څیز چه دَ پاکے خاورے په حکم کښے وی هغے سره دَ پاکئ حاصلولو ارادے ته تیمم وائی۔

## د تیمم فرائض

دتیمم فراض په تیمم کښے درے څیزونه فرض دی:

(۱) په زړه کښے دَ تیمم کولو نیت کول۔

(۲) دواړه لاسونه په زمکے په یو څیز(خاوره کانړے چونه وغیره) باندے وهل او بیا په مخ باندے راښکل۔

(۳) په لاسونو باندے لاس ګرځول یعنی مسح کول۔

## دَ تیمم مسنون طریقه

په زړه کښے د تیمم نیت او قصد کولو نه پس دے دواړه تَلی په پاکه زمکه باندے یا خاوره باندے اُوَهی ۔رومبے دِ په مخ باندے په دا شان اوګرځوی چه هیڅ یو ځائے پاتے نشی او بیا دِ په دویم ځل زمکه یا خاوره باندے دَ لاسونو تلی اُوهی او دواړه لاسونه دِ سره د څنګلو په دا شان مسح کړی چه هیڅ یو ځائے پاتے نشی۔

## کومو ځیزونو سره تیمم جائز دے

پاکه خاوره،کانړے ، کنکر، شګه، چونه،دَ خاورے کچه یا پخه خښته،دَ خاورے ګټے یا دخښتے دیوال باندے تیمم جائز دے۔ دغه شان که چرے په یو لرګی یا کپړه یا بل یو پاک ځیز باندے ګرد پروت وی نو په هغے باندے هم تیمم کیدے شی۔

## تیمم کله کول پکار دی

اودس او غسل دواړو د پاره یو شان تیمم کولے شی او هم یو تیمم دواړو د پاره کافی دے۔ لیکن تیمم هر وخت جائز نه دے بلکه د دے جائز کیدلو د پاره دَدے شرطونو موندے کیدل ضروری دی۔(۱) چه اوبه یو میل (یو نیم کلو میټر) یا د دے نه زیاتے لرے وی۔(۲)کوهے موجود وی لیکن هغے نه د اوبو راویستلو هیڅ سامان نه وی۔(۳) د اوبو په خوا کښے یو موذی ځناور یا ځوك دشمن وی چه نزدے ورتللو سره ده ته د نقصان رسیدلو ویره وی۔(٤) که چرے ریل یا هوائی جهاز یا موټر کښے سور وی او په هغے باندے اوبه ملاویدے نشی یا د اودس کولو موقعه نه وی،یا کوزیدلو سره اوبه راخستلو سره د سورلئ نه د پاتے کیدلو ویره وی نو که چرے د هغے په دیوالونووغیره باندے ګرد پروت وی نو په هغے باندے تیمم کول جائز دی۔(٥) داوبو استعمال سره د مرض د زیاتیدلو یا د مرض پیدا کیدلو یا په صحت باندے د بَد اَثر پریوتلو خطره وی نو تیمم کول پکار دی،لیکن په دے سلسله

کښې خامخا دَ وهم په بنا باندې تیمم کول پکار نه دی ،بلکه تیمم هغه وخت کول پکار دی کله چه د مرض زیاتیدلو یا پیدا کیدلو یقین یا تجربه وی۔
(٦)چه اوبه ورسره لږې وی که هغې باندې اودس کوی نو تږې به پاتې شی یا په روټئ پخولو کښې به ورته دَ تکلیف اندیښنه وی۔
(٧) اودس یا غسل کولو کښې د یو داسې مونځ پاتې کیدلو خطره وی د کوم چه قضا نه وی لکه د اخترونو مونځ ،د جنازې مونځ۔نو په دې ټولو صورتونو کښې د اودس یا غسل په ځائې تیمم کولې شی۔ البته داسې مونځونه د کومو قضا چه روستو کیدلې شی لکه د پنځووختو مونځونه،نو په داسې مونځونو کښې تیمم جائز نه دے۔
دَ تیمم ماتونکی څیزونه: ( کومو خبرو سره چه تیمم ماتیږی)۔
(١)کومو خبرو سره چه اودس ماتیږی هغې سره تیمم هم ماتیږی ۔
(٢)کومو څیزونو سره چه غسل فرض کیږی هغه خبرو سره تیمم هم ماتیږی (٣)دکوم عذر په وجه چه تیمم کړې شوې وی که چری هغه پاتې نشی نو تیمم به ما ت شی ۔ لکه داوبو نه ملاویدلو په وجې سره ئې تیمم کړې وو اوس داوبو ملاؤیدلو په وجې سره به تیمم مات شی ۔
(٤) داوبو ملاؤیدلو نه پس که چرې دهغې په استعمالولو قدرت لری نو تیمم ماتیږی ۔
تیمم سره څووخته مونځونه کولې شی: تر څو پورې چه تیمم مات نه وی تر هغه وخته پورې په تیمم باندې چه څومره مونځونه غواړی

کولے شی ، او په تیمم باندے فرض ، سُنت ، واجب ، نفل مونځ ، طواف ، تلاوت وغیره هرڅه کولے شی غرض دا چه تیمم داودس قائم مقام دے.

# دحیض او نفاس احکام، زنانۇ دپاره

## (Menses and delivery)

### حیض

ښځوباندے چه هره میاشت کومه وینه راځی هغے ته حیض وائی.

### دَحیض موده

دَ حیض موده کم نه کم درے ورځے اودرے شپے او زیات نه زیات لس ورځے او لس شپے دی ۔ که چرے ښځے له دَدرے ورځو درے شپونه کم یا لس ورځو لس شپو نه زیاته وینه راغله نو هغه به دَ حیض وینه نشی ګنړلے کیدے بلکه هغے ته به استحاضه وایو.

### نفاس

کومه وینه چه ښځو باندے دَ ماشوم پیدا کیدلو نه پس راځی هغے ته نفاس وائی ۔

### دنفاس موده

دَ نفاس وینه زیات نه زیات څلویښت ورځے راځی دکمے مودے ئے حد نشته ۔که چرے دَ څلویښتو ورځونه مخکښے وینه بنده شی نو زنانه له لامبل پکاردی او لامبلونه پس دِ خپل ځان پاک او ګنړی

اومونځ دِ شروع کړی ـ همدغه شان که چرے دڅلويښتو ورځونه زياته وينه راشی نو څلويښت(٤٠)ورځونه پس هغے له لامبل پکاردی۔ څلويښت(٤٠) ورځو نه پس چه کومه وينه راغله هغه به دَ استحاضے وينه وی ـ

## دحيض او نفاس حکم

(١)حيض او نفاس نه فوراً پس لامبل او مونځ شروع کول پکاردی ـدَ وينے بند يدلونه پس چه څومره مونځونه پريږدی دَهغے به ګناه وی۔ (٢) دَ حيض او نفاس په حالت کښے مونځ ، روژه او دَ قرآن تلاوت وغيره کول منع دی البته په مونځ او روژه کښے دومره فرق دے چه دَحيض په حالت کښے چه څومره مونځونه تلی وی دَهغے قضا نيشته ، هغه ورته معاف شول ، ليکن دپا کوالی نه پس د روژے قضاضر وری ده۔ (٣) په دے حالت کښے ذکر او دعا کولے شی.
(٤)درود شريف هم وئيلے شی (٥) په قرآن کښے چه کومے دعا ګانے راغلی دی دَ دعا په ارادے سره هغه هم لوستلے شی (٦) سړی ښځو سره کينا ستلے او خوراک څکاک کولے شی ، خبرے اترے هم کولے شی ليکن نفسانی خواهش پوره کولے نشی (٧)قرآن له لاس نشی اوړلے ، البته دنورو اسلامی کتابونو مطالعه کښے هيڅ حرج نيشته ـ

## داستحاضے حکم

(۱) پورته خودلے شوی دی چه دحیض او نفاس مودے نه کمه یا زیاته چه کومه وینه راشي هغے ته استحاضه وائی ۔ په استحاضه کښے وینه دمرض په وجه سره راځی (۲) داستحاضے په حالت کښے د قرآن تلاوت اومونځونه پریښودل نه دی پکار ۔ البته دهر مونځ وخت کښے نوے اودس کول پکار دی ۔ په یو اودس سره دګنړو وختونو ادا مونځونه نشی کولے ، البته دګنړو وختونو قضا مؤنځونه په یو وخت کښے په یو اودس سره کولے شی۔

(۳) کچرے چا ته د حمل په زمانه کښے وینه راشي نو دغه وینه به هم په استحاضه شمارلے کیږی،په دے سره مونځ وغیره پریښودل نه دی پکار۔

## د پاکوالی (طُهرْ) موده

د دوؤ حیضو تر مینځه د پاکوالی موده کم نه کم پنځلس ورځے ده ، دَ زیاتے مودے هیڅ حد مقرر نه دے۔

(۱) یعنی کچرے د ښځے حیض اوس ختم شوے وی او دَ پنځلسو ورځو نه کمے وقفے یا مودے (طهر او پاکئ) نه پس بیا وینه راغله نودابه دویم حیض نه شمارلے کیږی بلکه استحاضه به وی ولے چه دَ طهر او پاکئ کمے مودے(پنؤلسو ورځو) نه مخکښے راغلے ده ۔

(۲) همدغه شان که چرے یوے ښځے له په لسو ورځو کښے دننه دننه دوه درے ورځے حیض راغے بیا دوه درے ورځے پاکه وه بیا دوباره وینه راغله نو دا دَ مینځ وقفه ( پاکی) به هم په حیض کښے شمارلے کیږی ، ولے چه دَ حیض اکثر او زیات نه زیاته موده لس ورځے ده ، په دے وجه دا حالت راتلل به په حیض کښے شمارلے شی۔

(۳) او که چرے په ابتداء کښے څو ورځے وینه راغله بیا پاکی شروع شوه ، او بیا وینه راغله ، لیکن دا دورا نیه ( موده ) دلسو ورځو نه زیاته شوه ۔ یعنی فرض کړه دوه یا درے ورځے وینه راغله بیا پنځه ورځے پاکی وه بیا څلور ورځ وینه راغله نو دا ټوله زمانه دَ لسو ورځو نه زیاته جوړیږی ۔ اوس په دے صورت کښے که چرے دَ ښځے کوم یو عادت وی یعنی هر یو حیض یا ددے نه مخکښے والا حیض شپږ یا اته وغیره ورځے وی نو دا موجوده حیض به شپږ یا اته ورځے حیض تصور کیږی او باقی ټولے ورځے به استحاضه وی ۔ او که چرے دَ ښځے هیڅ عادت معلوم نه وی یا په ړومبی ځل با لغیدلو سره ئے دا حالت شویا با لغید لو سره ئے دلسو ورځو نه زیاته وینه راغله نو په دے صورت کښے به دا لس ورځے حیض شمار شی اوباقی استحاضه ۔ دَ استحاضے ورځو کښے چه کوم مونځونه ترے پاتے شوی وی دهغے قضاراوړل پکار دی.

# مونځ

Pray(Sal,at)

مونځ ته عربئ کښے "صلٰوة" وائی۔ دصلوة لفظی مطلب دعا ده ۔ او په شریعت کښی صلٰوة یو خاص طریقے سره دعبادت کولو نوم دے ( کوم کښے چه قیام ، رکوع ، سجده ، قعده وغیره وی )

## دمونځ فضیلت

دَ عباده بن صامت رض نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: پنځه مونځونه الله تعالی فرض کړی دی ۔ چا چه هغے دپاره په ښه شان اودس اوکړو او هغه ئے په خپل وخت اوکړل او رکوع، سجدے هم چه څنګه کول پکاروی هغسے ئے اوکړے او دَ خشوع صفت سره ئے دغه مونځونه ادا کړل نو داسے کس دپاره دَ اللّٰه تعالیٰ پخه وعده ده چه اللّٰه به ئے او بخی ، او چاچه داسے او نه کړل( د مونځ باره کښے ئے کوتاهی اوکړه ) نو هغه دپاره د اللّٰه تعالیٰ هیڅ وعده نیشه ۔ که خوښه ئے شی نو ښښنه به ورته اوکړی او که خوښه ئے شی نو سزا به ورکوی ۔

## د مونځ فرائض

په مونځ کښے دیارلس څیزونه فرض دی ۔ اووه(۷) دَ مونځ نه مخښکے او شپږ په مانځه کښے دننه ۔ کوم څیزونه چه د مونځ نه مخښکے فرض دی هغے ته دَمونځ شرائط وائی او کوم چه په ما نه کښے

دننه فرض دی هغے ته دَ مونځ ارکان وئیلے کیږی ـ که په دے څیزونو کښے یو هم پاتے شی ، خواه که قصداً وی یا په هیره وی نو مونځ به او نه شی ـ

(۱) دَ بدن پاکوالے : یعنی دَ مونځ ګزار بدن دِ دَ نجاستِ حقیقی او حکمی نه پاک وی ـ یعنی که اودس ئے نه وی نو اودس دِ اوکړی او که دغسل ضرورت وی ورته نو غسل دِ اوکړی او که په بدن ئے څه پلیتی لګیدلے وی نو هغه دِ اوینځی ـ

(۲) دَ جامو پاکوالے : یعنی که چرے دَ مونځ ګزار په جامو باندے پلیتی وی نوهغه دِ اُوینځی ـ

(۳) دَ ځائے پاکوالے: یعنی په کوم ځائے باندے یا پوړ باندے یا جانماز باندے چه مونځ کوی هغه دِ پاک وی ـ

(٤) عورت یعنی ستر پټول: دَ بدن د پټوالی مطلب دادے چه سړی له کم نه کم داسے جامه اغوستل پکاردی چه دزنګون نه واخله تر نامه پورے حصه دِ پټه وی او ښځو له داسے جامه اغوستل پکار دی چه دَ دواړو لاسونو دمړوندونو ، دَ دواړو خپو او د مخ نه علاوه ټول بدن دِ پټ شی ـ

(٥) دمونځ وخت کیدل (٦) قبلے طرفته مخ کول۔

(۷) دَ مونځ نیت کول : نیت دَ زړه دَارادے نوم دے په ژبے سره نیت کول ضروری نه دی.

(۸) تکبیر تحریمه : یعنی دَ نیت نړلو وخت کښے لاسونه اوچتولو سره الله اکبر وئیل۔

(۹) قیام یعنی اودریدل :    که چرے څه عُذرنه وی نو په نیغ اودریدلو سره مونځ کول ۔

(۱۰) قرآن لوستل :    دَ قرآن کریم کم نه کم دری ورکوټی آیتونه یا یولوئے آیت لوستل ۔

(۱۱) رکوع کول    (۱۲) دواړه سجدے کول ۔

(۱۳) آخری قعده کول:    یعنی څومره وخت چه په تشهد لوستلو کښے لګی دومره ساعت کیناستل ۔

## دمونځ واجبات

په مونځ کښے دالاندینی شل واجبات دی ۔ که چرے په هیره باندے واجب پاتے شی نو مو نځ خو نه فاسدیږی لیکن دَ دغه کمی لرے کولو دَ پاره شریعت سجده سهوه مقرر کړے ده ۔ اوکه چرے قصداً ئے واجب پریخودو نومونځ به فاسد شی ۔

(۱) دَ فرضو ړومبی دوه رکعتونه قرأت دپاره مقررول او متعین کول یعنی ډک لوستل ۔

(۲) سورت فاتحه لوستل :یعنی دفرض مونځ په ړومبنو دوؤ رکعتونو کښے او دسنتواونفلومونځونو په ټولو رکعتونو کښے سورت فاتحه لوستل واجب دی ۔ دَ فرضو په دریم او څلورم رکعت کښے فاتحه لوستل سنت دی ۔

(۳) دَ فاتحے نه پس سورت یا یو او کډ آیت یا درے واړه آیتونه لوستل
(٤) سورت فاتحه دَ سورت نه مخکښے لوستل۔
(٥) ټول فرائض په ترتیب سره اداکول : یعنی قیام ، قرأت ، رکوع او سجده کښے په دا شان دَ ترتیب خیال ساتل چه دَ رکوع نه مخکی سجده یا دَ سجدے نه مخکی قعده او نه کړے شی۔
(٦) ټول ارکان پرله پسے اداکول : یعنی که چرے دَ یو رکن نه پس دَ بل رکن په ادا کولو کښے بے خیالئ سره په هیره دومره ساعت یا وقفه تیره شی چه په څومره ساعت کښے یوه سجده یا یوه رکوع کیږی نو سجده سهوه کول به واجب شی ـ
(۷) طمانیه : یعنی رکوع او سجده وغیره په اطینان سره ادا کول ـ
(۸) قومه کول : یعنی دَ رکوع نه پس په ښه شان نیغ اودریدل ـ
(۹) جلسه کول : یعنی یوے سجدے نه پس په ښه شان کینا ستل ، بیا دویمه سجده کول ـ
(۱۰) جهری یعنی دَ سحر ، ماښام ، ماسخوتن ، جُمعے او دَ اخترونو په مونځونو کښے جهر ( یعنی اوچت آواز ) سره قرآن لوستل او خفیه یعنی ماسپخین او مازیګر وغیره مونځونو کښے خفیه ( یعنی پټ ) قرآن لوستل ـ
(۱۱) امام پسے خاموش او دریدل یعنی قرآن نه لوستل۔
(۲۱) دَ امام تابعداری او پیروی کول۔
(۱۳) په ړو مبئے قعده باندے کیناستل۔

(١٤) په دواړو قعدو کښې تشهد(یعنی التحیات ) لوستل۔

(١٥) په وترو کښې دعائے قنوت لوستل۔

(١٦) د وترو په دریم رکعت کښې قنوت د پاره تکبیر وئیل۔

(١٧) السلام علیکم ورحمۃالله وئیلو سره مونځ ختمول۔

(١٨) د اخترونو زیاتی تکبیرونه یعنی د اختر مونځ کښې په هر رکعت کښې شپږ شپږ تکبیرونه زیاتی وئیل۔

(١٩) د اختر د دویم رکعت نه مخکښې د رکوع د پاره تکبیر وئیل ۔

(٢٠) که په مونځ کښې د سجدے آیت اوائی نو د تلاوت سجده کول۔

## د مونځ مفسدات

یعنی هغه څیزونه د کوموپه کولو سره چه مونځ ماتیږی او دوباره مونځ کول ضروری وی

قاعده: په مانځه کښې داسے کار یا کلام کول چي د مانځه د جنس نه نه وی که قصد وي او که په هیره یا غلطي سره وی. یا د مانځه پر فرائضو او شرطونو کښې یو څیز نه موجودیدل،دے سره مونځ ماتیږی۔

## تفصیل

(۱) په مانځه کښې قصداً یا په هیره خبرې کول خواه که لږې وی یاډ یرې۔

(۲) په مونځ کښې چاته سلام کول یا په ژبې سره د سلام جواب ورکول۔

(۳) د اینګی کونکی **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** وئیل یا د هغه په جواب کښې **یَرْحَمُکَ الله** وئیل یا د مونځ نه بهر د چا په دعا باندې آمین وئیل۔

(٤) د مرګ یا بیمارئ یا بل یو خراب خبر اوریدلو باندې **اِنَّا لِلّٰه وَاِنَّا اِلَیْه رَاجِعُوْنَ** وئیل یا د خوشخالئ په څه خبره باندې **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** یا د تعجب په خبره باندې **سُبْحَانَ الله** وغیره لوستل۔

(٥) د بیمارئ ، درد ،تکلیف یا غم په وجه هائې ،اُف یا آه آه کول۔

(٦) د خپل امام نه سوا ـمونځ نه بهر چا قرآن لوستونکی له فتحه ورکول دمانځه نه یا بهر چانه لقمه اغستل ـ

(٧) عملِ کثیر کول یعنی داسې کار کول چه هغې سره لیدونکې سړې دا اوګنړی چه دا سړې مونځ نه کوی۔

(٨) قصداً یا په هیره څه خیز خوړل یا څکل۔

(٩) په قرآن لوستلو کښې سخته غلطی کول یعنی داسې غلطی کول چه معنیٰ ورسره بدله شی۔

(١٠) د دوؤ صفونو په اندازه پرله پسې تلل یعنی په مانځه کښې دننه څلور پنځه قدمه تلل۔

(۱۱) د قبلے طرف نه قصداً بل طرفته بغیر عذره سینه ګرځول۔

(۱۲) دومره وخت پورے د سَتَر ځلورمه حصه ښکاره کیدل ځومره وخت کښے چه یوه سجده یا رکوع کولے شی۔

(۱۳) الله تعالیٰ نه داسے څیز غوښتل کوم چه د بندګانو نه هم غوښتلے کیږی مثلا خوراک څکاک وغیره۔

(۱٤) د جنازے مونځ نه علاوه په بل یو مونځ کښے د عاقل بالغ سړی په قهقهے سره خندل۔

(۱۵) امام نه مخکښے پوره رکوع یا سجده کول یا د هغه نه وړاندے کیدل۔

## د مونځ مکروهات

یعنی هغه څیزونه کومو سره چه مونځ بالکل ماتیږی خو نه، لیکن داسے کولو سره یا خو ګناه ملاویږی یا ثواب کمیږی۔

قاعده: کومے خبرے چه خشوع خضوع او عاجزی خرابوی او د مانځه نه توجه اړوی هغه خبرے او کارونه په مانځه کښے مکروه دی

## تفصیل

(۱) سدل یعنی څادر ځان نه تاوولو په ځائے د هغه دواړه طرفونه زوړند پرینښودل همدغه شان دَ ګلوبند دواړه طرفونه زوړندول او مونځ کول۔ (۲) جامے یا تندے د خاورے نه بچ کولو د پاره جامے راغونډ ول یا خُلے سره خاوره یا دوړه بار بار پوکل ۔ (۳) د خپل بدن جامو، یا

ګوتمے یا ګیرے وغیره سره لوبے کول۔ (٤) په داسے معمولی جامو کښے مونځ کول چه په هغے کښے بازار یا یو مجلس ته تلل خوښ نه کړے شی۔ (٥) د سستئ یا بے پرواهئ په وجه سرتور سر یا د نامه نه پاس بدن بربنډ ولو سره مونځ کول۔ (٦) ګوتونه ټقونه ویستل (٧) په ملا یا تونټی باندے بے ضرورته لاسونه کیخودل په سجده کښے دوراه څنګلے په زمکه باندے (دسپی غوندے) خورَول۔ (٩) په سترګو سره یو خوا بل خوا کتل (١٠) یو داسے سړی طرفته مونځ کول څوك چه دده طرفته مخ کړے ناست وی۔ (١١) د لاس یا د سر په اشارے سره چاله د سلام یا د څه خبرے جواب ورکول۔ (١٢) قصداً اَسویلے کول (١٣) چه مخکښے صف کښے ځائے وی او څوك روستو ځانله یوازے اودریږی۔ (١٤) په داسے جامو کښے مونځ کول په کومو باندے چه تصویر جوړ وی۔ (١٥) دویم رکعت د ړومبی نه اوګدوَل (١٦) په یو مونځ کښے یوخاص سورت لوستلو د پاره مقررول ۔ (١٧) د قرآن ترتیب نه خلاف قرآن لوستل یعنی په کوم ترتیب سره چه قرآن کښے سورتونه لیکلی شوی دی په هغه ترتیب سره نه لوستل ۔ (١٨) د تشو یا د ډ کو متیازود دباؤ په وخت کښے مونځ کول۔ (١٩) په مانځه کښے کتمل ، مچ ،میږے وغیره وژل ، البته که چرے کتمل یا میږے ئے اُچیچی نو هغه دِ راؤنیسی اوخوشے دِ کړی۔ (٢٠) په سجده کښے دواړه خپے د زمکے نه اوچتول، د بعضو فقهاؤ په نزد دے سره مونځ ماتیږی ۔ (٢١) په داسے ځائے کښے

مونځ کول چرته چه ډیر خلق لګیا وی خبرے کوی او ویره وی چه په مونځ کښے به خلل راشی یا به ورله خنده ورشی یا به ئے خیال بدل شی یا به ترینه مونځ کښے هیره اوشی۔

# دجمعي(باجماعت) د مونځ فضيلت

مونځ صرف یو انفرادی ذمه داری نه بلکه شریعت ددے دپاره اجتماعی طور باندے د جمع سره د مونځ دکولو یو نظام قائم کړے دے.ددے نظام په ذریعے سره په امت کښے اجتماعیت پیدا کیږی. شریعت هرمسلمان نارینه باندے چی بیمار یا څه په بله وجه حقیقی معذور نه وی د جمعے سره مونځ ادا کول لازمی کړی دی. سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنه د نبي کریم علیه الصلوة والسلام نه روایت کوی چي دجمعے سره مونځ د ځانله مونځ په مقابله کښے اوویشت درجے زیاتے فضیلت لری.(بخاری و مسلم)

# دجمعی (جماعت) مونځ په چا فرض دی؟

دجماعت مونځ په هغه عاقل بالغ آزاد سړو باندی واجب دے چه څه عذر ورته نه وی او بغیر د مشقت او حرج نه جماعت کښے شریک کیدلو باندی قادر وی۔

# هغه عذرونه چه جماعت پری پریخودلی شی

(۱) دومرجامه ورسره نه وی چي عورت پرے پټ کړے شی. (۲)په لاره کښے دومره ختې وی چه تلل ګران وی-(۲)ډ یر تیز باران وی (۳) ډیره سخته یخنی وی چه پکښے دبیماری خطره وی(٤) جماعت ته تللو کښے دمال اسباب د غلا خطره وی(٥) جماعت ته تللو کښے دد شمن خطره وی (٦) ډ یره تیاره وی چی لاره نه ښکاری(٧)دیو مریض علاج او خیال ساتل وی او بل څوك نه وی-(٨) روټۍ تیاره وی او لوږه هم ډ یره زیاته لګیدلی وی-(٩)داودس ماتی ډیر سخت ضرورت وی(١٠) داسی بیماری وی چه سرے دهغی سره ګرځیدلی نه شی- (١١)دسفر اراده وی اوکه جماعت کښے شریک شی نو د قافلې یاد ګاډی د تلو خطره وی- ریل او جهاز هم په دے مسئله قیاس دی خو دومره فرق دے چی هلته یو قافله د بلے قافلے نه ډیر ورځو پس راځی او دلته ریل په یو ورځ کښے څو پیرے ځی . که یو وخت ریل ملاو نشی نو بل وخت کښے تلے شی البته که ډیر خرج وی نو بیا مضائقه نشته.(١٢)شپه وی او ډیر سخت طوفاني هوا وی . (١٣)جومات تلو کښے د قرض خواه ملاویدو او دهغه نه د تکلیف خطره وي خو په دے شرط چي ته د قرض په ادا کولو قادر نه ئےاو که قادر وی نو بیا به داسے سړے ظالم حسابیږی او ده ته به د جماعت د پریخودلو اجازت نه وی.(١٤)څه داسے بیماری وی

چې دهغې د وجې ګرځيدې نشي يا ړوند يا ګوډ وی اګرکه په څه طريقه جومات ته راتلے شي.

# د ښځو او سړو مونځ کښې فرق

(۱)د تکبير تحريمه وخت کښې سړو له غوږونو پورے لاسونه اوچتول پکار دی او ښځو له تر اوګو پورے۔ (۲) که چرے سړی څادر وغيره ځان نه راتاؤ کړے وی نو لاس اوچتولو وخت کښې د څادر نه لاس بهر ته راويستل پکار دی ،ليکن ښځو له په هر حال کښې لوپټے يا څادر کښې دننه دننه لاس اوچتول پکار دی ۔ (۳) سړو له د نامه په برابر لاسونه تړل بهتر دی او ښځو له په سينه باندے لاسونه تړل ضروری دی۔ (٤) سړو له د ښی لاس قتے ګوتے او کچے ګوتے سره د ګس لاس مړوند نيول پکار دی او ښځو له صرف د ښی لاس تلے د ګس لاس په شا باندے ايښودل کافی دی ۔ (٥)سړو له په رکوع کښې خپله شا او سر برابر ساتل پکار دی او ښځې دِ دومره قدرے ټيټے شي چه لاسونه ئے زنګونانو پورے اورسی او په زنګون دِ دَ لاس ګوتے ملاؤ کړے لری۔ (٦) سړو له په رکوع کښې څنګلے د اړخ نه لرے ساتل پکار دی او ښځو له ملاؤ کړے ۔ (۷) سړو له پکار دی چه هغوی دِ په سجده کښې خپلے متے د ترخ نه،او خيټه د پتون نه جدا اوساتی او ښځو له يو ځائے ساتل پکار دی۔ (۸) سړے به په سجده کښې دواړه خپے د ګوتو په زور ولاړے ساتی او ګوتے به ئے قبلے ته مخامخ وی او

ښځه به دواړه خپے ښی طرفته اوباسی۔ (۹) سړو له د قعدے حالت کښے په ناسته کښے خپله ښئ خپه ولاړه ساتل پکار دی او په ګسه خپه کیناستل پکار دی۔ او ښځے به خپلے دواړه خپے ښی طرفته اوباسی خپل ښے پتون به ګس پتون سره ملاؤ کړی او په کوناټو به کینی۔ (۱۰) ښځو له په هیڅ وخت کښے دومره اوچت آواز سره قرآن لوستل نه دی پکار چه غیر سړے ئے واؤری۔(۱۱)دقیام په حالت کښے به قدمونه یو بل ته نزدی ساتی (۱۲) دسحر مونځ د زنانو لپاره وختی په تیاره کښے بهتر دے (۱۳) زنانه د نورو زنانو لپاره د جمع مونځ نه شی کولی(۱٤) دتراویح یا نفل مونځ امامتی ورله هم مکروه ده (۱۵) دسړی سره یو صف کښے نه شی ودریدلی(۱٦) امام ته په ژبه فتحه نه شی ورکولی بلکه په لاس به ئی ورکوی(۱۷) دسړو امامت نه شی کولی(۱۸) که دسړو سره د جمعی مونځ کوی نو وروستو به اودریږی (۱۹) ښځے به تکبیرات تشریق په ورو آواز وائی(۲۰)ښځی اذان هم نه شی کولی۔ښځوباندے دجمع او د اخترونو مونځ واجب نه دے.

# د وتر مونځ

## (Salat of witr)

د رسول الله ﷺ ارشاد مبارک دے چه وتر مونځ حق دے څوک چه وتر مونځ نه کوی هغه زمونږ نه نه دے۔

## د وترو حکم

وتر مونځ واجب دے او دَ واجب مرتبه فرض ته نزدے نزدے ده۔پریښودل ئے لویه ګناه ده که چرے کله پاتے شی نو کله چه موقع ملاؤ شی نو فوراً د هغے قضا راګرځول پکار دی۔

## د وتر رکعتونه او ادا کولو طریقه

د وتر درے رکعتونه دی چه د هغے د ادا کولو طریقه دا ده چه دوه رکعتو نه پس دِ کینی او التحیات دِ اوائی او درود شریف دِ بالکل نه وائی بلکه التحیات لوستلو نه پس دِ فوراً پاسیږی او الحمد او بل سورت دِ ورسره اُوائی الله اکبر دِ اوائی سړے دِ د غوږونو نرمو پورے لاس پورته کړی او ښځه دِ اوګے پورے لاسونه اوچت کړی او بیا دِ اوتړی ، بیا دِ دعائے قنوت اُوائی او رکوع دِ اوکړی او په دریم رکعت دِ کینی التحیات ، درود شریف او دعا لوستلو نه پس دِ سلام اوګرځوی۔

نوټ : د دعائے قنوت الفاظ د مونځ د ترجمے په حصه کښے درج دی۔

# دجمعے مونځ

## (Salat -e- Jumma)

د جمعے په ورځ د ماسپخين دمانځه په ځائے چي کوم کيږی هغے ته د جمعے مونځ وائی. ليکن د ماسپخين څلور رکعاته وی او دا مونځ دوه رکعاته دے بغير د عذر نه پريخودل گناه ده

## دجمعے د ورځ رکعاتونه

د جمعے د ورځے ټول دولس رکعاته دی، دوه رکعاته فرض د امام سره، اته رکعاته سنت مؤکده. څلور مخکی او څلور روستو او دوه رکعاته سنت غير مؤکد دفرض نه پس.

## دجمعے دمانځه طريقه

دجمع په ورځ اول څلور رکعاته سنت موکده اداکولے شی بيا د امام سره د خطبے نه پس د جمعے فرض کولے شی. د امام سره د دوه رکعاته فرضونه پس څلور رکعاته سنت موکده او دو رکعاته سنت غير موکده ادا کولے شی. که د جمعے نه مخکي څلور رکعاته سنت موکده نه وی کړی نو بيا د امام سره د فرض مانځه نه پس دے ادا کړی. د چانه د جمعے مونځ لاړو نو بياد جمعے مونځ ځانله نشی کولے البته هم په دغه ورځ به دنورو ورځو پشان د ماسپخين لس رکعاته ادا کړی.

## دجمعې د مانځه د صحیح کیدو شرائط

(۱) مقیم کیدل(۲) آزاد(حریت)(۳) سړی وی(٤) معذور نه وی۔(٥)دجماعت د پریخودلو چي کوم عذرونه مخکی ذکر شو دهغے نه محفوظ کیدل. (٦)ښار یا قصبه وی (۷) دما سپخین وخت وی (۸) خطبه وئیل(۹)خطبه د مانځه نه مخکښےوئیل(۱۰) خطبه به د ماسپخین په وخت کښے وی (۱۱)جماعت سره کول (۱۲) عام اجازت او علی الا علان جمعه کول (۱۳)حاکم وقت یا دهغه نائب (لکه زمونږ د زمانے ائمه کرام)۔

## دروزانه مونځونو درکعاتونو د تعداد نقشه

| مونځ | سنت مؤکد | سنت غیر مؤکد | فرض | فرضونه پس سنت | نوافل | وتر | ټول رکعتونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سحر | ۲ | ۔ | ۲ | ۔ | ۔ | ۔ | ٤ |
| ماسپخین | ٤ | ۔ | ٤ | ۲ | ۲ | ۔ | ۱۲ |
| مازیګر | ۔ | ٤ | ٤ | ۔ | ۔ | ۔ | ۸ |
| ماښام | ۔ | ۔ | ۳ | ۲ | ۲ | ۔ | ۷ |
| ماسخوتن | ۔ | ٤ | ٤ | ۲ | ٤ | ۳ | ۱۷ |
| جمعه | ٤ | ۔ | ۲ | ۲+٤ | ۲ | ۔ | ۱٤ |

# صلوة قصر یعنی د مسافر مونځ

## (Salat of Journey)

په شریعت کښې مسافر هغه سړی ته وائی څوك چه د خپل کور نه داسې ځائے ته د تللو اراده اوکړی کوم چه د ده د کور نه 77,78کلومیټره لرے وی۔ که چرے د دے نه کم سفر وی نو مسافر به نه وی بلکه مقیم به ورته وئیلے شی۔ اوس د دومره سفر ارادے نه پس کوم وخت چه څوك د خپلے کلی او بستئی نه بهر شی نو دے به مسافر شی ۔ یا د لرئ چرته چه د سفر اراده (حِصارتیا) د پنځلسو ورځو نه زیاته وی بیا هم مسافر نه دے۔

## د قصر طریقه

د سفر دوران کښې که چرے مسافر پخپله امام جوړ شی یا ځانله مونځ کوی نو هر هغه مونځ کوم چه څلور رکعتیز دے لکه د ماسپخین ،مازیګر او ماسخوتن مونځ ، په هغے کښے قصر کول یعنی د څلورو رکعتو په ځائے دوه دوه رکعته کول واجب دی ۔ که چرے چا د شرعی مسافر کیدلو باوجود قصداً ادا مونځونه پوره اوکړل نو ګنهګار به وی ۔ د دے نه علاوه کوم مونځ چه څلورو رکعتووالا نه دے لکه د سحر، ماښام اودماسخوتن وتر، نوپه دے کښے قصر کول جائز نه دی ۔

## سفرکښې دسنت حکم

او دَ سنت مؤکده حکم دا دے چه که چرے مسافر په توندئ کښې وی نو دَ سحر دَ سنتو نه علاوه باقی سنتو نه پر یښودے شی ، د هغے پریښودلو سره به هیڅ ګناه نه وی ـ او دَ سحر دَ سنتو باره کښې چونکه په حدیث پاک کښےډیر تاکید راغلے دے لهٰذا دادِنه پریږدی. او که چرے مسافر سرے په توندئ کښے نه وی یا په یو هوټل یا مسافرخانه کښے دیره شوے وی نو غوره دادی چه سنت دِ کوی او چه سنت کوی نو قصر به پکښے نه کوی بلکه سنت پوره کول ضروری دی۔که د چانه مونځونه په سفر کښے قضاء شول، نو کورته راتلو نه پس به دسفر قضاء مونځونه دوه رکعته قضاء راؤړی، او که د چانه مونځونه په کور کښے قضاء شوی وو، نو که هغه د سفر دوران کښے د هغی قضاء مونځونو کول غواړی، نو پوره څلور رکعته به کوی۔

# دَ تراویحو مونځ

## (Salat e Taravih)

دَ رمضان میاشت کښے دَ ماسخوتن دفرضو او سنتو نه پس او دَ وترو نه مخښکے چه کوم مونځ کولے شی هغے ته په شریعت کښے تراویح وائی ـ تراو یح دَ تر ویحة جمع ده او دا لفظ دَ راحت نه جوړدے ، په تراویحو کښے چونکه هروڅلورو رکعتونه پس لږ ساعت آرام کولے شی دے دپاره دے ته د آرام او راحت والا مونځ وائی ـ

## دَ تراویح دَ مونځ حکم

په ټولو بالغو سړو او ښځه باندے دَ تراویحو مونځ کول سنت مؤکده دی او چه څوك ئے نه کوی هغوی ګنهګار دی ، البته ښځو له په کور کښے تراویح کول پکار دی او سړوله په جومات کښے جَمعے سره البته دعذر په حالت کښے ځانله هم جائز دی ـ

## دتراویح کولو طریقه

افضل داده چه په یو یو سلام سره دوه دوه رکعته اوکړے شی او دهر څلورو رکعتونه پس د څلورو رکعتو په اندازه کیناستلے شی او په درود شریف او تسبیح وئیلو یا دعا کولو کښے وخت تیر کړے شی۔

په تراویحو کښے دَ قرآن لوستلو حکم : دَ تراویحو مونځ کښے یو ځل دَ پوره قرآن ختم کول سنت دی که چرے په یو ځائے کښے حافظ او قاری ملاؤنشی نو ورکوټو سورتونو سره هم دَ تراویحو مونځ کولے شی ـ یاد دِ وی چه په معاشره کښے په اجرت باندے دَ ختم قرآن کوم رواج چه جوړ شوے دے ، په شریعت کښے ددے هیڅ ثبوت نیشته ـ بلکه داسے کول ګناه ده ځان بچ کول ترے لازم دی.

## دَ مونځ مکروهه وختونه

څه وختونه داسے دی کومو کښے چه فرض ، سنت ، نفل هیڅ یو مونځ نشی کؤلے ، او څه وختونه داسے دی کومو کښے چه فرض ،

سنت خو کؤلے شی لیکن نفل مونځ نشی کولے ۔ دَ د وا ړو بیان مونږه جدا جدا کوؤ ۔

کومو وختونو کښې چه هرمونځ مکروهه دے :(۱) دَ نمر ختلو وخت کښې که چرے نمر یودوه ګزه پاس راشی نو بیا هیڅ حرج نیشته دے ۔ (۲) ټهیک دزوال وخت کښے ۔ دزوال وخت دَ سوری ګرځیدلو نه لږ مخښکے شروع کیږی او دَ نمر ګرځیدلو لونه څه ساعت پس پورے باقی اوسی ۔ (۳) کله چه ماښام ته نزدے وخت کښے نمر بالکل زیړ شی دَ هغے وخت نه ترنمر پریوتلو پورے مونځ منع دے ۔ لیکن که چرے د دغه ورځ مازیګره پورے ئے دمازیګر مونځ نه وی کړے نو په دغه وخت کښے ئے کول پکاردی اګر چه مونځ به ئے مکروهه وی۔ (٤) دَ جُمعے خطبه شروع کیدلونه پس لیکن قضا مونځ کؤلے شی ۔

کومو وختونو کښے چه صرف نفل مونځ مکروهه دے:

(۱)دَ صبا صادق نه پس یعنی د نمر راختلو کښے چه یوه نیمه ګهنټه پاتے شی نو د هغه وخت نه تر نمر ختلو پورے د سحر دَ سنتو او فرض مونځ نه علاوه بل کوم نفل مونځ کول نه دی پکار۔ البته که د ماسخوتن مونځ ترے قضا شوے وی نو د فرضو او وترو قضا کولے شی۔(۲) د مازیګر فرض مونځ کولو نه پس تر نمر پریوتلو پورے او د سحر فرض مونځ کولو نه پس تر نمرختلو پورے هیڅ نفل مونځ کول نه دی پکار ۔ البته که چرے د سحر سنت ترے تلے وی او د نمر

راختلو نه پس موقع وی نو کول ئے پکار دی۔(۳) د نمر پریوتلو نه پس د ماښام فرض مونځ نه مخکښے ۔ (٤) د اخترونو مونځ نه مخکښے په کور کښے یا په عید گاه کښے یا بل ځائے کښے نفل مونځ کول مکروهه دی لیکن په نورو وختونو کښے دَ فرض او واجب مونځ قضا او د جنازے وغیره مونځ کول پکار دی او د تلاوت سجده هم کول پکار دی۔

# دسترے حکم

دامام یا منفرد دپاره چی کله هغه په کور یا میدان کښے مونځ کوی نو دا مستحب دی چی دخپلو سترګوخی طرف یا ګس طرف ته داسے څه څیز اودروی چی دیو لاس یا ددے نه زیات اوچت (اوګد) او دیو ے ګوتے برابر موټا وی۔ البته کښے جماعت کښے مونځ کوی یا داسے ځائے کښے چی هلته د خلقو تیریدل راتیریدل نه وی نو بیا سترے ته ضرورت نشته۔ دامام ستره مقتدیون دپاره هم کافی ده۔ ستره اودرولو نه پس کښے دسترے مخے ته څوك تیریږی نو ګناه نشته البته که د مونځ ګذار او دسترے په مینځ کښے تیریږی نو ګناه ده۔

# قضا مونځونه

## Missed Salat

د قضا لفظی معنٰی ده فوت شوی۔ او د شریعت په اصطلاح کښے د قضا مونځونو نه مراد هغه مونځونه دی کوم چه په خپل وخت اونه

کړے شی ، خواه که د څه مجبورئ په وجے سره وی یا د سستیا په وجه سره وی ۔لکه د سحرد مونځ وخت د صبا صادق نه تر نمر راختلو پورے دے که چرے په دے دوران کښے مونځ پاتے شی او دَ نمر راختلو نه پس اوکړے شی نو دا قضا مونځ شو۔

# د قضاء مونځ حکم

یاد لرئ چه ټول مونځونه په خپلو وختونو کښے ادا کول فرض دی بغیر دَ شرعی عُذر نه مونځ د خپل وخت نه روستو کول جائز نه دی بلکه کبیره گناه ده۔ چا چه د څه عذر په وجه مونځ په خپل وخت کښے ادا نه کړو نو په هغه باندے د عذر ختمیدولو نه پس د دغه مونځ قضا ضروری ده۔

## د قضا یو څو ضروری مسائل

(۱) د فرضو قضا فرض ده۔(۲) د واجب قضا واجب ده۔ (۳) د سنتو او نفلو قضا نیشته ۔ لیکن که چرے یو سړے سنت او نفل شروع کړی او بیا ئے مات کړی نو په هغه باندے د هغے قضا راگرځول واجب دی ۔ سنت او نفل په شروع کولو سره واجبیږی ،لهٰذا د واجب کیدلو په وجه ئے قضا راگرځول واجب دی۔

## د قضا راګرځولو طریقه

دوقتی مونځ او قضا مونځ په مینځ کښے د ترتیب رعایت ساتل واجب دی۔ مخکښے قضا مونځ ادا کول ضروری دی او د هغے نه پس دِ وقتی مونځ ادا کړی۔ که چرے یو سړی مخکښے وقتی مونځ اوکړو او د هغے نه پس ئے قضا مونځ اوکړو نو د هغه وقتی مونځ ادا نشو، د هغے دوباره کول واجب دی۔مثال: د یو سړی نه د ماسپخین مونځ پاتے شو تر دے پورے چه د مازیګر وخت شروع شو نو په دغه سړی باندے واجب دی چه مخکښے د ماسپخین قضا مونځ اوکړی د هغے نه پس دِ د مازیګر مونځ ادا کړی، چه قضا ورته یاد وی او د ترتیب رعایت کولو نه بغیر ئے همدا سے د مازیګر مونځ اوکړو او بیا ئے د ماسپخین مونځ شروع کړو نو د ده د مازیګر مونځ اونه شو ۔ د ماسپخین قضا نه پس بیا د مازیګر مونځ کول ضروری دی خو دامثله دصاحبِ ترتیب دپاره ده دچا نه که یومونځ قضاء شوے وی، نو کله چه یاد راشی سمدستی دی دهغی قضاء راؤړی۔ بغیر د عذر نه په قضاء کولو کښے روستو والی کول ګناه ده، که په دغه حالت کښے مرګ راشی، نو دو چند ګناهګار به وی، یو خود مونځ قضاء کولو او دویم سمدستی د قضا نه رواوړلو۔

غیر صاحب ترتیب کس(دچانه چی د شپږو نه زیات مونځونه شوی وی خومره چه کیدی شی زر تر زره د ټولو قضاء راؤړل پکار دی، که کید شی نو همت دی اوکړی او په یو وخت دے د ټولو مونځونو

قضاء اوکړی، ګینی په یو وخت کښے دی دوه دوه څلورڅلورمونځونه قضاء راوړی ، که داهم نه شی کولی، نو په یو وخت دے صرف دیو مونځ قضاء راوړی ،په دے کښے د ترتیب خیال ساتل ضروری نه ده.بهر حال د قضاء کولو کوشش دے کوی ۔

مسئله: ددریو ممنوع وختونو نه علاوه هر وخت کښے قضاء مونځونه کیدے شی۔

# قضائے عمری

که یو بیلمازه سړی توبه اُویسته نو د ټول عمر مونځونه چه څومره ترے قضا شوی دی د ټولو قضا راګرځول واجب دی ،توبے سره مونځونه نه معاف کیږی البته دَ نه کولو په وجے سره چه کومه ګناه شوے وه هغه ورته معاف شوه ،اوس که چرے د هغے قضا راؤنه ګرځوی نو بیا به ګناهګار وی۔ د دے نه علاوه زمونږ په معاشره کښے چه کومے د قضا عمرئ په باره کښے خبرے مشهورے دی چه د خاصو ورځو او خاصو شپو عبادت یا توبے سره دا مونځونه معاف کیږی دغه ټولے مَن ګهړت (او بے بنیاده) خبرے دی د کومو چه په شریعت کښے هیڅ ثبوت نیشته۔

# د شپې ورځې نفل مونځونه

(Nafl Salat)

هسې خو په هر مسلمان سړي او ښځه باندې په شپه ورځ کښې پنځه مونځونه فرض دي۔ د دې نه علاوه د نبیﷺ په سنت سره بعضې داسې مونځونه کول ثابت دي کوم چه فرض خو نه دي لیکن د هغې په کولو کښې ډیر زیات ثواب دے۔ د نوافلو پابندئ سره انسان ته ډیر خیر او برکت ملاویږي۔اوس د یو څو نفلو مونځونو ذکر کولے شي۔

## د تهجد مونځ

د دې مونځ وخت د ماسخوتن نه پس تر صبا صادق پورې دے۔ د دې مونځ ذکر په قرآن او حدیث دواړو کښې راغلے دے۔ د صحابوؓ نه پس ټولو د دین بزرګانو دا مونځ کړے دے۔ د دې مونځ نوم دأب الصالحين ایښودے شوے دے یعنی د نیکانو خلقو مونځ په نفلی مونځونو کښې دټولو نه بهتر او اوچتے درجے والا مونځ دے.

## تحیة الوضواو تحیة المسجد

که چرې څوك سړے د اودس کولو نه فورا پس دوه رکعته مونځ کوی نو هغه ته به ډیر ثواب ملاویږي۔ دے ته تحیةالوضوءوائی۔ په حدیث کښې ددې ډیر فضیلت راغلے دے۔ همدغه شان جومات ته

داخلیدلو نه پس فوراً چه دوه رکعته نفل اوکړے شی نو د دے هم ثواب دے۔ دے ته تحیة المسجد وائی۔

## د اشراق مونځ

د اشراق مونځ د نمر راختلو نه یو شیبه پس دوه رکعته نفل مونځ کولو په حدیث کښے ډیر ثواب خودلے شوے دے۔د نبی ﷺ نه هم د دے مونځ کول ثابت دی۔

## دڅاخت مونځ

کله چه نمرکافی اوچت شی نو دوه دوه رکعته کولو سره دَ څلور و رکعتو مونځ کولو هم په حدیث کښے ذکر راغلے دے او د اَتو رکعتو هم ۔ دے ته دڅاښت مونځ هم وائی۔ نبی کریم ﷺ به د دے ډیر اهتمام فرمائیلو۔

## صلوٰة حاجت

حضرت عبد اللّٰه بن ابی اوفیٰؓ نه روایت دے چه حضور ﷺ فرمائیلی دی که چرے په تاسو کښے د چا اللّٰه تعالیٰ ته یا چا بنیادم ته څه حاجت وی نو هغه دِ په ښه شان سره اودس اوکړی بیا دِ دوه رکعته مونځ اوکړی بیا دِ د اللّٰه تعالیٰ حمد او تعریف اوکړی او په رسول اللّٰه ﷺ باندے درود وئیلو نه پس دِ دَ حاجت هغه دعا اوغواړی کومه چه په مسنون دعاګانو کښے درج ده۔

## صلوٰة استخاره

د بندګانو علم ناقص دے۔ ډیر ځلے داسے اوشی چه یو بنده یو کار کول غواړی خو دَ هغے انجام د هغه په حق کښے ښه نه وی ۔رسول اللهﷺ د دے د پاره د استخارے تعلیم فرمائیلے دے۔ او ښودلی ئے دی چه کله درته څه خاص او اهم کار درپیښ شی نو دوه رکعته مونځ اوکړئ او د الله تعالیٰ نه دَ رهنمایئ او دَ خیر د توفیق دعا غواړئ۔ د استخارے دعا په مسنون دعاګانو کښے درج ده۔

## دَ کسوف مونځ

د نمر تندر نیولو وخت کښے دوه رکعته مونځ کولو ته په شریعت کښے د کسوف مونځ وئیلے کیږی۔

## د خسوف مونځ

د سپوږمئ تندر نیولو وخت کښے دوه رکعته مونځ کولو ته په شریعت کښے د خسوف مونځ وئیلے کیږی۔

## د استسقاء مونځ

د استسقاء معنیٰ ده او به طلب کول۔ یعنی کله چه د اوبو ضرورت وی او باران نه وریږی نو په داسے وخت کښے دوه رکعته مونځ کولو نه پس د الله نه د اوبو د پاره دعا غوښتل سنت دی۔

# سجده سهوه

## ( Sajdah for mistake)

د سهوے معنیٰ ده هیریدل۔ که چرے د مونځ گذارنه یو واجب په هیره سره پاتے شی نو دے د پاره په شریعت کښے سجده سهوه واجب کړے شوے ده۔ په حدیث کښے هم راځی چه کله په مونځ کښے شیطان ستاسو توجه د الله نه اوګرځوی او هیره درباندے راولی نو تاسو د مونځ په آخره کښے دوه سجدے کوئ۔ دے سره به شیطان ذلیله او رسوا شی۔

## سجده سهوه کله واجبیږی

په مانځه کښے په هیره سره لاندیځ غلطئ کولو سره سجده سهو واجبیږی.(۱)یو واجب پریخودل (۲) یو واجب مخکښی کول(۳)یو واجب وروستو کول (٤) یو واجب بدلول(٥) یو واجب مکرر کول(٦) یو رکن (فرض) مخکښی کول(۷) یو رکن (فرض) وروستو کول(۸)یورکن (فرض) مکرر کول ۔

که چرے سجده سهوه کول ترے هم هیر شو نو بیا مونځ دوباره کول پکار دی۔

## د سجده سهوے طریقه

د مونځ په آخری قعده کښے تشهد لوستلو نه پس ښی طرفته دِ سلام اوګرځوی بیا دِ فوراً دوه سجدے اوکړی۔ د دے نه پس دِ بیا

تشهد، درود او دعا اُوائی او دواړو طرفته دِ سلام اوګرځوی۔ که چرے د سلام ګرځولو نه پس ورته یاد شو چه ما باندے خو سجده سهوه واجبه شوے وه او سجده سهوه مې اونه کړه ، نو تر څو پورے چه څه عملِ کثیر ئے نه وی کړے تر هغے سجده سهوه کولے شی۔ که چرے مقتدی امام سره مونځ کوی او یو واجب ترے پاتے شی نو مقتدی باندے سجده سهوه نیشته۔

# دعمل کثیر تعریف

(۱)داسے عمل کول چی دلرے نه کتونکے غالب ګمان وکړی چي داکس په مانځه کښے نه دے.(۲)کوم کار چي عادة په دواړو لاسونو سره کیږی لکه ازار بند تړل.پټکی وهل داعمل کثیر دے. اګر که یو لاس سره ئے وکړی او کوم کار چی عادة په یولاس سره کیږی هغه به دواړو لاسونو وکړی نو هم عمل قلیل دے لکه ازار بند کولا ووهل، کلکه ټوپۍ د سر نه لرے کول.(۳)هغه عمل چي د درے حرکاتو متوالیه یعنی درے ځل د سبحان ربی الاعلیٰ په مقداروقت کښے وی هغه عمل کثیر دے.(٤)د مونځ ګزاررائے باندے موقوف ده. کوم څیز چی دے کثیر وګنړی هغه عمل کثیر دے او کوم چی دے قلیل وګنړی هغه عمل قلیل دے.

# د تلاوت سجده

## (Sajdah in Recitation)

په قرآن پاک کښې ټول څوارلس ایتونه دسجدې دی ، د سجدې هر یو آیت لوستلو یا اوریدلو سره یوه سجده کول واجبېږی۔

## د سجده تلاوت حکم

د سجدې آیت لوستلو او اوریدلو دواړو صورتونو کښې د تلاوت سجده واجبېږی ۔ قصداً سجده تلاوت پریښودلو کښې ګناه ده لیکن که چرې یو سړے په مانځه کښې وی او دَ مونځ نه بهر څوك سړے تلاوت کوی نو په اوریدونکی مونځ ګذار باندے د مونځ په حالت کښې د تلاوت سجده واجب نه ده۔ چه مونځ نه فارغ شی نو سجده دِ اوکړی۔

## د سجده تلاوت طریقه

(۱) که چرے په مونځ کښے دننه د سجدے یو آیت اولوستے شی نو فوراً اللّٰہ اکبر وئیلو سره سجدے ته تلل پکار دی او بیا درے ځلے سبحان ربی الاعلیٰ لوستلو نه پس دِ اودریږی او کوم ځائے نه ئے چه قرآن پریخودے وو د هغه ځائے نه دِ بیا شروع کړی۔ که سجده ئے اونه کړه نو ګناه به وی۔که سجده فورا ونه کړی نو بیا دے رکوع ته تللوپه وخت کښے ددغه سجدے نیت وکړی نو د تلاوت سجده به ئے هم ادا شی.په مانځه کښے چې موکه سجده

تلاوت واجب شي هغه مانځه به بهرنشي کولے. امام سره ټولو مقتدیانو له سجده کول پکار دی۔

(۲) که چرے د مونځ نه بهر د تلاوت دوران کښے د سجدے آیت اولوستے شو نو بهتره دا ده چه فوراً دِ اودریږی دَ لاس اوچتولو نه بغیر دِ اللّٰه اکبر وئیلو سره سجدے له لاړ شی او بیا دِ سجده کښے تسبیح وئیلو نه پس اللّٰه اکبر وئیلو سره پاڅیږی او خپل تلاوت دِ شروع کړی۔ لیکن که چرے د تلاوت ختمولو نه پس سجده اوکړی نو هم هیڅ حرج نیشته۔

(۳) په ناسته ناسته هم د تلاوت سجده کیدے شی لیکن اودریدلو سره سجده کول بهتر دی۔ اوکه چرے د پوره قرآن تلاوت ختمولو نه پس ټولے سجدے اوکړے شی نو هم صحیح ده، لیکن په تراویحو یا فرض مونځ کښے داسے کول جائز نه دی۔

# د جنازے مونځ

## (Salat e Janaza)

مړی ته د مغفرت دعا د پاره چه کوم مونځ کولے شی هغے ته د جنازے مونځ وائی۔

## دجنازے د مونځ فضیلت

دحضرت ابوهریره رضی اللّٰه عنه نه روایت دے چه رسول اللّٰه ﷺ فرمائیلی دی چه کوم سړے د ایمان صفت او د ثواب په نیت سره د یو مسلمان

جنازے سره لاړ شي او تر هغه وخته جنازے سره اوسی چه هغه باندے مونځ اوکړے شي او د هغه دَ خخولو نه فراغت اوشي نو هغه به د ثواب دوه قیراطو سره راواپس شي چه په هغے کښے هر قیراط ګویا د احد د غر هومره دے ۔ او کوم سړے چه صرف د جنازے مونځ اوکړی او راواپس شي (دفن پورے ورسره حصار نشي) نو هغه به د ثواب (دغه شان) یو قیراط اخستلو سره راواپس شي۔

## د جنازے د مونځ حکم

د جنازے مونځ فرض کفایه دے۔ که چرے د بستئ (او علاقے) بعضو خلقو اوکړو او بعضو اونه کړو نو د ټولو دَ ذمے نه فرض ادا شو، لیکن که چرے د بستئ یو سړی هم جنازه او نه کړه نو ټول به ګنهګار وی۔ لیکن د خبریدلو نه پس هر مسلمان ته که چرے څه عُذر نه وی نو شریکدل پکار دی ۔ که چرے پته ورته نه وی نو هیڅ ګناه ورباندے نیشته۔

## د جنازے فرائض

په جنازه کښے دوه ارکان (فرض) دی ۔

(۱)څلور ځله تکبیر(الله اکبر) وئیل ۔ په جنازه کښے هر تکبیر د رکعت قائم مقام دے۔(۲) قیام (په ولاړه جنازه کول)

غرض دا چه د جنازے د مونځ ارکان تکبیرات او قیام دی ۔

## دَ جنازے سنت

په جنازه کښے درے څیزونه سنت دی:
(۱)ثنا یعنی دَ الله تعالیٰ حمد وئیل (۲) په نبی کریم ﷺ باندے درود وئیل (۳) مړی دپاره دعا کول۔

## دَ جنازے دَ مونځ طریقه

دَ جنازے دَ مونځ کولو طریقه داده چه اودس کولو نه پس دَ ټولو نه مخکښے صفونه درست کړے شی که چرے دوه خلور، لس سړی وی نو یو صف دِ جوړ کړے شی لیکن که چرے سړی زیات وی نو بیا دِ طاق صفونه جوړ کړے شی ـ ددے نه پس دِ امام او مقتدیان دانیت او کړی چه دا دَ جنازے مونځ دالله دپاره او دعا دَدے مړی دپاره کوُم، په ژبے سره څه مخصوص الفاظ وئیل ضروری نه دی۔ بیا دِ امام په اوچت آواز سره او متقدیان په وروالله اکبر اوائی او دواړه لاسونه دِ اوچت کړی بیا دِ هغه شان او تړی څنګه چه په عامو مونځونو کښے تړی ـ بیا چه څرنګ ثنا ( **سُبْحَانَکَ اللّٰهم۔** الخ ) په مونځ کښے لوستے کیږی امام او مقتدیان دِ ثنا اُوائی ـ دَثنا وئیلو نه پس دِ لاس اوچتولونه بغیر امام په زوره او مقتدیان په ورو دویم تکبیر ( الله اکبر ) وَئیلونه پس درود ابراهیمی اُوائی کوم چه په مونځ کښے وائی بیا دِ دواړه دریم تکبیر اوائی ـ که چرے مړے بالغ سړے یا ښځه وی نو امام او مقتدیان دواړه دِ دا دعا اوائی:

اَللّٰهمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَاوَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَاُنْثَانَا ـ اَللّٰهمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَاَحْيِه عَلَى الْاِسْلاَمِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَه مِنَّا فَتَوَفَّه عَلَى الْاِيْمَانِ ـ اَللّٰهمَّ لَا تَحْرِمْنَا اَجْرَه وَلاَ تُضِلَّنَا بَعْدَهٗ ـ

ترجمه :اے الله! زمونږه ژوندی او زمونږه مړی او زمونږه حاضر خلق او زمونږه غائب خلق او زمونږه کشران او زمونږه مشران او زمونږه نارینه او زمونږه زنانه اوبخښے۔ یا الله ! په مونږه کښے چه څوك ته ژوندے لرے نو هغه په اسلام باندے ژوندے اولرے او چا له چه مرګ راوَلے نو د ایمان سره ورله مرګ ورکړے۔یا الله! د ده دَ اجر نه مونږه محرومه نه کړے او د ده نه پس مونږه ګمراه مه کړے۔ددے نه علاوه نورے دعاګانے هم احادیثوکښے راغلی دی هغه هم لوستلے شی لکه.

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ وَارْحَمْهُ وَعَافِهٖ وَاعْفُ عَنْهُ وَاَكْرِمْ نُزُلَهٗ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهٗ وَاغْسِلْهُ بَالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهٖ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْاَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ وَاَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهٖ وَاَهْلًا خَيْرًا مِنْ اَهْلِهٖ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهٖ وَاَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَاَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ۔[مسلم]

ترجمه: یا الله! دے معاف کړه په ده رحم وکړه ده ته عافیت ورکړه درګزر ورته وکړه. دده خه میلمستیا وکړه د ده قبرفراخه کړه د ده ګناهونه په اوبو ګلو په واوره ووینځه. دے د ګناه هونونه داسے پاك کړه لکه چي سپینے کپړے دخیرے نه پاکوالے شی. ده ته د ده ددنیا د کور نه بهتر کور ،ددنیا د اهل وعیال نه بهتر اهل وعیال او د جوړے نه بهتر جوړه

ورکړه. دے جنت ته داخل کړه او د قبر د فتنے او د جهنم د عذاب نه ئے بچ کړه.

## او که چرے نابالغ هلک وی نو دا دعادِ اوایئ

**اَللّٰهمَّ اجْعَلْه لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْه لَنَا اَجْرًاوَّ ذُخْرًا وَّاجْعَلْه لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا۔**

ترجمه : اے الله! دا هلک مونږ د پاره د مغفرت سبب او ذریعه جوړ کړے او دے مونږ د پاره اجر او د آخرت سامان جوړ کړے او دے زمونږه سفارشی جوړ کړے او دے داسے سفارشی جوړ کړے چه سفارش ئے قبول کړے شی۔

## او که چرے نابالغه جینئ وی نو دا لوستل پکار دی:

**اَللّٰهمَّ اجْعَلْها لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْها لَنَا اَجْرًا وَّ ذُخْرًاوَّاجْعَلْها لَنَا شَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً۔**

ترجمه : اے الله! د اجینئ زمونږد بخښنے ذریعه جوړه کړے او دا زمونږد پاره اجر او د آخرت ذریعه اوګرځوے او دا زمونږه سفارشی جوړه کړے او داسے سفارش کونکے ئے جوړه کړے چه سفارش ئے قبول شی۔

د دے دعا نه پس دِ بغیر د لاس اوچتولو نه امام په اوچت آواز سره او مقتدیان دِ په قلاره تکبیر اوائی او دواړه طرفته دِ سلام اوګرځوی۔دے مونځ نه پس هیڅ اجتماعی دعا د سنت نه ثابته نه ده بلکه فوراً جنازه اوچتول پکار دی۔

# روژه

## (Fasting)

روژے ته په عربئ کښے "صوم" وائی ، د صوم معنیٰ ده د خبرو اترو یا خوراک څکاک نه بندیدل۔ او په شریعت کښے د صبا صادق نه تر نمر پریوتلو پورے سره د نیت خوراک څکاک پریښودلو، د ښځو نه جدا اوسیدلو (جماع کولونه) او د بدو خبرو نه ځان ساتلو ته صوم یا روژه وائی۔

## دَ روژے فضیلت

دحدیث مفهوم دے چا چه د رمضان روژے اونیوے، ایمان سره،د روژے د حدودو خیال لرلو سره ،نو هغه ته به د هغه ټول مخکښے ګناهونه معاف کړے شی۔

## دَ روژے فرائض

په روژه کښے درے فرضه دی:

(۱)نیت (۲)د صبا صادق نه تر نمر پریوتلو پورے څه څیز نه خوړل اوڅه څیز نه څکل (۳) جماع او هم بستری نه کول۔

## کومو خبرو سره چه روژه فاسدیږی

کومو خبرو سره چه روژه ماتیږی هغه په دوه قسمه دی (الف) یو هغه چه هغے سره صرف قضا لازمیږی. (ب) دویم هغه کومو سره چه قضا او کفاره دواړه لازمیږی۔

## تفصیل قاعده

کوم کار سره چي دبطن )دمانځ او معده) مکمل دخرج (شرمګاه)مکمل فائده وی او مقصد سړے دغه کار اوکړی نو دے سره قضاء او کفاره دواړه لازم دی او کم کارسره چی دے دوړاو(بطن اوخرج) ته ناقص فائده وی یا په غلطئ سره څه وخوری نو په دے صورت کښے به صرف قضالازم وی کفاره نشته.

(۱) چا په زبردستئ سره دَ روژه دار په خله کښے څه واچول او هغه حلق ته کوز شو ۔ (۲) روژه ورته یا ده وه خو دَ خلے کنګالولو وخت کښے ئے دَ ارادے نه بغیر بے احتیاطئ سره حلق نه لاندے او به کوزے شوے ۔ (۳) قصداً په ډ که خله قے کول یا په خوله کښے لږ شان قے راغے او هغه ئے تیر کړو (٤) کوم څیزونه چه نه خوړلے کیږی مثلاً کاغذ ، کوت کانړے ، خاوره ، کوئله وغیره دَ هغے تیرول ۔ (٥)په غاښونو کښے د روټئ یا دَ غوښے نیله پاتے وه ،ده خلال اوکړو او هغه د حلق نه لاندے لاړه ، نو که چرے دغه ټکړه د چنړے دانے نه وړه وه نو هیڅ حرج نیشته لیکن که چرے د چنړے دانے نه لوئے وه نو د

روژے قضا راګرځول پکار دی۔ (٦) په غوږ یا پوزه کښے تیل وغیره اچولو نه پس حلق نه لاندے کوزیدل۔ (٧) په هیره ئے څه خوراک څکاک اوکړو د هغے نه پس ئے دا سوچ اوکړو چه روژه خو مے ماته شوه بیا ئے دوباره څه خوراک څکاک اوکړو۔(٨) د صبا صادق نه پس ئے په دے خیال کولو سره پیشمنے اوکړو چه وخت لا باقی دے یا د نمر پریوتلو نه مخکښے ئے په دے خیال سره روژه ماته کړه چه نمر پریوتے دے۔(٩) د رمضان شریف روژے نه علاوه یو نفل یا واجب روژه قصداً ماتول ۔ په دے ټولو صورتونو کښے روژه ماتیږی چه په کښے قضا شته دے او کفاره نیشته۔ (١٠) د رمضان دروژے په حالت کښے قصداً یو داسے کار کول چه د هغے کول په روژه کښے منع دی مثلاً خوراک څکاک کول یا ښځے سره خپل خواهش پوره کول (جماع کول). دغه شان په څکلو کښے اوبه،دوائی یا بل یو نرم څیز نه علاوه چیلم،سیګرټ، بیړی وغیره هم شامل دی۔ (١١) په روژه کښے ئے یو داسے کار اوکړو چه د هغے کول جائز دی مثلاً په سر ئے تیل اومږل یا ئے رانجه واچول یا ئے خوشبوئی بوئے کړه یا ئے ښځه ښکل کړه او بیا ئے دا خیال اوکړو چه ځما روژه ماته شوه نو قصداً ئے خوراک څکاک اوکړو۔ په دے آخری دوؤ صورتونو کښے قضا سره کفاره هم لازمی ده۔

## کومو خبرو سره چه روژه مکروهه او فاسدیږی نه

(۱)په سر یا بدن باندے تیل لګول ۔ (۲) رانجه اچول (۳) په روژه کښے مسواک کول(٤) خوشبوئی لګول یا بویؤل (٥) په هیره سره څه خوړل څکل یا ښځے سره صرف ځملاستل (٦) بخپله بغیر د قصد نه قے کول خواه زیات وی یا کم ۔ (۷) خولے ته چه کومے لړے شان توکانړے راځی هغه تیرول (۸) ارادے نه بغیر مچ یا لوګے وغیره د حلق نه کوزیدل (۹) د ګرمئ زیاتوالی په وجه بار بار خوله کنګالول یا په بدن باندے اوبه اچول یا لونده کپړه په بدن باندے ایخودل (۱۰) په خوب کښے احتلام کیدل۔

## د کفارے بیان

- که چرے د رمضان روژے ئے قصداً اوخوړے نو د دے کفاره دا ده چه مسلسل دوه میاشتے روژے نیول فرض دی که چرے په مینځ کښے روژه پاتے شوه نو بیا به د سره شروع کوی۔ سوا د حیض د ورځو نه چه هغه یو قدرتی او دائمی عذر دے۔
- که چرے چا کښے د دوؤ میاشتو روژو نیولو طاقت نه وی نو بیا دِ شپیتو مسکینانو باندے دوه وخته په مړه خیټه روټی اوخوروی یا د هرے روژے په بدله کښے د صدقه فطر (یعنی سرسایے) په مقدار غَله یا قیمت ورکول دی۔

❖ که چرے په هم یو رمضان کښے ترے ګڼړے روژے پاتے شوے نو بیا هم صرف یوه کفاره واجبه ده۔

# زکوٰة

# (Zakat (Alms))

په عربئ ژبه کښے د زکوٰة معنیٰ پاکیدل او زیاتیدل دی۔ او په شریعت کښے خالص د الله تعالیٰ رضا حاصلولو د پاره د شارع د حکم مطابق د یو مقرر او متعین مال څوك مستحق مسلمان مالك جوړؤلو ته زکواة وائی۔

## د زکواة فضیلت

دقرآن پاک دهدایت مفهوم دادے : اے نبی ﷺ ! ته دَ مسلمانانو د مالونو نه صدقه (زکواة ) وصولوه د پاره د دے چه دَ دے په ذریعه د دوی د زړونو صفائی او د دوئی د نفسونو پاکوالے اوشی ۔ [توبه]

ګویا د زکواة ادا کولو سره د انسان د نفس تزکیه کیږی۔

## د زکوٰة حکم

هر کال زکوٰة په هغه عاقل بالغ مسلمان باندے فرض دے (خواه که سړی وی یا ښځه وی) څوك چه د نصاب مالك وی او د هغه په مال باندے پوره کال تیر شوے وی۔ د دے د فرضیت نه انکار کونکے

کافر دے او چه فرض ئے ګڼړی او نه ئے ادا کوی نو هغه فاسق او سخت ګناهګار دے۔

## د صاحبِ نصاب کیدلو مطلب

سره زر،سپین زر یا دَ مال اسباب هغه مقدار کوم باندے چه زکوٰة واجبیږی هغے ته په شریعت کښے نصاب وائی ۔چا سره چه دوه نیم پنځوس تولے(2/52,1) چاندی یا اوه نیمے تولے(2/7,1) سره زر یا د چاندئ د نصاب هومره نغدے روپئ یا د تجارت مال وی نو په هغه باندے به زکواة واجب وی بیا د هغے نه به څلویښتمه حصه ویستل وی۔یعنی ټول مال به په ٤٠تقسیم کړی چي کوم حاصل جواب راوځی هغه څلویختمه حصه زکوٰة دے.

# حج

(Piligram) (Haj)

په اسلامی شریعت کښې دَحج په موده کښې د خانه کعبې زیارت کولو او د عرفات میدان ته رسیدلو ته حج وائی۔

## د حج فضیلت

په حدیث کښې راځی چه کوم سړے په دا شان حج اوکړی چه نه ئے پکښې دَ بے حیائۍ څه کار کړے وی، او نه ئے څه فسق او فجور (یعنی ګناه) کړے وی نو هغه پدا شان پاک صاف واپس راګرځی لکه چه نن مور زیګولے وی۔

## د حج فرائض

په حج کښې درے فرضه دی:

(۱)احرام تړل د نیت او تلبیے سره ۔ (۲) عرفات کښې ایساریدل ۔ (۳) طوافِ زیارت کول (طهارت سره)

## د حج واجبات

په حج کښې لاندینۍ خبرے واجب دی۔

(۱)میقات نه مخکښې احرام تړل (۲)وقوف مزدلفه (۳) طواف زیارت په ایام قربانی کښې کول (۱۰تا ۱۲ ذوالحجه)

(٤) صفا او مروه کښې سعی کول (٥) سعی د صفا نه شروع کول او په مروه ختمول (٦)د سعی اووه چکرے وهل (٧)دمکے والو نه علاوه د نورو خلقو طواف صدر کول. دیته طواف وداع هم وائي. هر طواف نه بعد دوه رکعته مونځ کول -(٨) د قربانی په دریواړو ورځو (ایام نحر) کښې جمرات ویشتل- (٩) دحرم په زمکه کښې حلق یا قصر کول او حلق یا قصرد قربانی په ورځو کښې کول (١٠) دطواف او د سعی په دوران کښې د حدث اصغر او حدث اکبر نه پاک اوسیدل (١١)داحرام د ټولو ممنوعاتونه ځان بچ کول لکه ګنډ لے شوے جامے اغوستل وغیره-

## دحج سنتونه

(١)مفرد آفاقی او قارن دپاره طواف قدوم کول (٢) طواف قدوم کښې رمل او اضطباع کول که چرے ددینه پس سعی کول وی ، او که طواف قلام نه پس سعی ونه کړه نو بیا به طواف زیارت نه پس سعی کول پکاروی او دغه وخت به په طواف زیارت کښې رمل هم کوی(٣) په اتم ذوالحجه سحر منیٰ ته تلل او هلته پنځه واړه مونځونه کول (٤) د نور د راختلو نه پس په نهم تاریخ د منیٰ نه عرفات ته روانیدل(٥)دعرفات نه د نور ډوبیدونه پس د حج د امام نه مخکښې روانیدل (٦) عرفات نه واپس تلو کښې شپه په مزدلفه کښې تیرول. (٧) عرفات کښې غسل کول (٨)ایام منیٰ کښې شپه په منیٰ کښې کول- دسنتوحکم دادے چې قصدائے پریخودل بده خبره ده او په کولو کښے ئے ثواب دے او په نه کولو کښے ئے جزاء نه ده لازم.

## د حج قسمونه

د حج درے قسمه دی (۱) حج إفراد (۲) حج تمتع (۳) حج قران په دے درے واړو کښے فرق د احرام وخت کښے نیت کولو سره کیږی۔

## حج افراد

د احرام تړلو وخت کښے صرف د حج نیت کولو ته حج افراد وائی۔

## حج تمتع

په تمتع کښے د حج په ورځو کښے احرام تړلو سره عمره کول او دَ هغے نه پس څو ورځو د پاره احرام لرے کول ، بیا د حج فرائض ادا کولو د پاره په اتم ذِی الحجه دوباره احرام تړل۔

## حج قرآن

دا د اِحرام هغه طریقے ته وائی کومه کښے چه د حج او عمرے دواړو دپاره په یو ځائے احرام اوتړلے شی او په یو احرام سره مخکښے عمره او بیا حج اوکړے شی۔

## دحج تمتع طریقه

داده چي اول به دعمرے احرام وتړی د حج په میاشتو کښے به عمره وکړی چی د عمرے نه فارغ شی سربه وخوری حلال به شی بیا به

مکه کښې قیام وکړی یا به بل ځائے کښې مګر وطن ته به نه ځی. کله چي د جمعې ورځ راشی نو د حج احرام به وتړی او حج به وکړی. په 8ذوالحجه به منی ته لاړشی او ماسپخین مازیګر ماخام ماسخوتن او دسحر مونځ به منی کښې وکړی. شپه به هلته تیره کړی. په نهم تاریخ د نور خقلو نه پس به عرفات ته لاړ شی او وقوف عرفه دے زول نه تر غروب پورے وکړی. دلسمي په شپه به مزدلفه کښې اوسی دلسم په سحر به اول وخت کښې مونځ وکړی دعا په کوی. کله چی دوه رکعاتو په انداز نورختلو ته پاتے شی نو مزدلفے نه به منی ته لاړشی . تقریبا اووه یا کنکریاسوځان جمع کړی او د وادی محسر نه دے په منډه ووځی. منی ته چی راشي نو د جره اخری(طبقه)رمی بدوکړی بیا به ذبح (دم تمتع)وکړی. بیا به سروخوری بیابه طواف زیارت وکړی طواف نه مخکی دریو پیرو کښې به رمل کوی اضطباع دے نه کوی طواف نه بعد دے سعی وکړی بیا دے باره پائیده تاریخ (ذالحجه)پورے منی کښې قیام وکړی او هره ورځ دے دزوال نه پس د دریواړو جمرو رمی کوی بیا د منی نه واپسئ کښې که مکن وی نو وادی محصب ماسپخین مازیګر مانښام او ماسخوتن وکری بیا دے لګ حصار شی مکے مکرمے ته دے راشی . که دومره نه شی کولے نو لګ دے حصار شی ، بیا د مکے نه تلو په وخت کښې دے طواف وداع وکړی.

نوټ: دلته صرف د حج تمتع طریقه ولیکلے شوه حج افراد او قران پریخودلے شو ځکه چي نن صبا عام طور خلق حج تمتع کوی.

# عُمره

## (Umra)

## دَ عمرے فضیلت

د نبی کریم ﷺ ارشاد دے چه حج او عمره دواړه (عملونه) ګناهونه دغسے لرے کوی څنګه چه بَهټیٔ د اوسپنے زنګ لرے کوی۔

(۱)احرام تړل(نیت اوتلبیے سره)(۲)د بیت اللّٰه طواف کول(۳)د صفااو مروه سعی کول۔

## دعُمرےواجبات

په عمره کښے دا لاندینی کارونه واجب دی۔

(۱) د میقات نه احرام تړل (۲) ویښته لنډول یا خروّل (حلق یا قصر) (۳) په اوداسه کښے یعنی طهارت سره طواف کول۔

## دعمرے سنت

دعمرے په طواف کښی رمل او اضطباع کول۔

## دعمرے کولو طریقه

دعمرے دپاره دے دمیقات نه د حج په شان احرام وتړی. داحرام د مکراهاتو او محرماتو نه دے ځان ساتی او مکے مکرمے ته دے داخل شی او د اراںو خیال دے وساتی. مسجد حرام ته دے دباب السلام یا باب العمره نه ورداخل شی. بیا دے درمل او اضطباع سره طواف وکړی. او

چې کله دحجراسود اول سلام وکړی نو تکبیر دے بنده کړی. اووه چکرے د طواف پوره کولو نه پس د ے دوه رکعاته مونځ وکړی. د حجر اسود اسلام دے وکړی.

# قربانی

## (Uzhiya)

دَ لوئے اختر ورځو کښے دَ الله درضا دپاره چه کوم ښاروے حلالولے شی هغے ته قربانی وائی ۔

## دَ قربانۍ فضیلت

دَ حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : دالله تعالیٰ په نزد دَ قربانۍ په ورځ دبندګانو په ټولو عملونو کښے خوښ عمل دَ ښاروی وینه بهیول دی او قربانی کونکے به دقیامت په ورځ دَ خپلے قربانۍ دَ ښکرو، نوکو او ویښتو سره حاضریږی ـ دَ قربانۍ وینه په زمکه باندے پریوتلونه مخکښے دالله تعالیٰ په بارګاه کښے دَ قبولوالی شرف حاصل کړی نو تاسوله پکاردی چه په خوشحاله زړه سره قربانی اوکړئ ـ ( ترمذی ، ابن ماجه)

## قربانی په چا باندے واجبه ده

دَ چا ملکیت کښے چه اوه نیمے تولے (7½) سرو زر یا دوه پنځوس نیمے تولي (52½) تولے چاندی یا د دے په مقدار نغدے روپۍ یا د تجارت مال یا د ضرورت نه زیات سامان کښے یو څیز یا د دے

پنځو واړو مجموعه یا په دوئ کښے د بعضو مجموعه د (52½) تولو چاندئ د قیمت برابر وی او د حاجت اصلیه نه سوا وی نو په هغه باندے قربانی او صدقة الفطر واجب ده۔

## د قربانئ واجبوالی شرطونه

قربانی لاندینی شرطونه موجود کیدلو سره واجبیږی۔

(۱) مسلمان کیدل، په غیر مسلم باندے قربانی نیشته۔ (۲) مقیم کیدل، په مسافر باندے قربانی واجب نه ده ۔ (۳) آزاد کیدل ، په غلام باندے قربانی واجب نه ده۔ (٤)بالغ کیدل ، په نابالغ باندے قربانی واجب نه ده۔ (٥) عاقل کیدل، په لیونی باندے قربانی نیشته۔

## د قربانئ ځاروی

چیلئ ،ګډه،ګډ ،غوا،میښه،سنډا،اوښ،اوښه۔ دَدے شپږو واړو ځناورو په نر او ماده دواړو باندے قربانی جائز ده ۔ د دے نه علاوه د هیڅ یو ځناور قربانی جائز نه ده۔

## د حلالو ځناورو اوه(۷) څیزونه خوړل جائز نه دی

(۱) بهیدونکے وینه (۲) د مذکر د متیازو اندام (۳) خصیتین (د ځناور اګئ ) (٤)د مونث د متیازو اندام (٥) غدود (ستغان)(٦) مثانه (۷)ترِیخے۔

# معاملات

## (Economics)

دمعاملات لفظ دَ عمل نه ماخوذ دے ۔ د دے مطلب دے کاروبار او خرڅول اخستل۔

## په معاملاتو کښے د حلال کسب او تجارت فضیلت او اهمیت:

حضرت رافع بن خدیج رضؓ وائی چه یو سړی دنبی کریم صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! کومه یوه ګټه دټولو نه عمده او پا کیزه ده ، هغویؐ او فرمائیل چه دسړی خپل لاس سره کار روزګار کول ( مثلا تجارت ، زراعت او صنعت وغیره ) او هره هغه سودا چه دشریعت مطابق وی ۔( اعلاء السنن)حضرت عمرؓ فرمائی چه کوم سړے په معاملاتو کښے داسلامی اصولونه خبرنه وی هغه دِ (خرڅولو اخستلو او تجارت دپاره)زمونږ بازار ته نه رائی(بخاری)

## دمعاملاتو شرائط او اصول

دَ معاملاتو شرائط او اصول لاندے درج دی که چرے داشرائط او اصول بیا نه مونډے شی نو دغه معامله به درست نه وی ۔

## (۱)تراضی

یعنی دَ دواړو فریقورضامندی۔مثلاً دوکاندار اوسودا اخستونکے په خپلو کښے په دغه معامله باندے راضی وی ۔ په مزدور او مالک

کښې هم چه کومه معامله فیصله شی نو دَ دواړو رضامندی ضروری ده ، که چرے په دوی کښې یو کس هم راضی نه وی نو اسلام دغه معامله نا جائزه ګرځوی ۔ لیکن ددے رضامندئ نه مراد شرعی رضامندی ده ۔

## (۲) معامله دِ باطله نه وی

یعنی معامله کښې دِ څه حرام څیز نه وی مثلاً د یو داسے تجارت یا زراعت معامله کومه کښې چه د سُود ګډ ون وی یا دهوکه وی یا دروغ وی یا په **مَبِیْعَه** یا **ثَمَنْ** کښې یو څیز حرام وی نو اسلام داسے معاملات هم حرام او باطل ګرځوی۔

## (۳) معامله دِ فاسده هم نه وی

یعنی دواړه فریقه په خپلو کښې راضی وی او معامله دِ هم باطله نه وی لیکن د بعضو خارجی اسبابو په بنا باندے هغه معامله شرعاً صحیح نه وی لکه د بیع ارکان یعنی ایجاب او قبول کښې څه نقص وی ، مثلاً په خرڅولو اخستلو کښې ثمن (قیمت) یا مبیعه (خرڅیدونکے څیز) مجهول (نامعلوم) وی وغیره یا په اونو کښې د میوے راتلو نه مخکښې باغ خرڅ کړے شی وغیره۔ په فاسده بیعه کښې که چرے خریدار په سودا باندے قبضه کړے وی نو بیعه به نافذه شی لیکن د سودی معاملے په حکم کښې به وی۔

نوټ: دکوم څیز په ذرت (اصل) کښې چې خرابي وی نو هغه بيع باطل ده لکه شراب وینه. دفترپه بیع. او د کوم څیز په وصف کښې چې خرابي وی هغه بیع فاسده ده بلکه کاټن کپړائے واغستله کورته ئے چی یوړه نو هغه سوچه کپړا وختله.

## نور شرطونه

- ❖ معامله دِ دَ سُود او قِمار یعنی جوارئ په طریقه باندے نه وی۔
- ❖ کوم څیزونه شرعاً حرام دی د هغے خرڅول اخستل نه وی۔
- ❖ کوم څیز چه خالص ګناه د پاره تیار کړے شوے وی د هغے خرڅول اخستل دِ هم نه وی۔
- ❖ څلور م دا چه ګاهک ته دِ دروغ اونه ویلے شی او هیڅ قسمه دهوکه ورسره اونه کړے شی ، د څیز عیب دِ پټ نه کړے شی۔
- ❖ هیڅ یو شریکوال دِ یو بل سره خیانت او نه کړی۔
- ❖ کوم مال چه ورسره موجود نه وی د هغے خرڅول دِ اونه کړے شی (په دے کښے دا هم داخل دی چه د ښکار کولو نه مخکښے د مارغه یا دَ مهی سودا اوکړے شی یا کوم بچے چه د څناور په خیټه کښے وی هغه خرڅ کړے شی یا باغ کښے د میوے راتللو نه مخکښے میوه خرڅه کړے شی)
- ❖ څوك مجبوره سړے خپل څیز خرڅوی نو د مجبورئ په وجه دِ هغه دباؤ نه کړے شی بلکه هغه دِ دَ مال اصل قیمت باندے واخستے شی۔

❖ يوه سودا دِ بلے سوده سره مشروطه نه کړے شي مثلاً داسے دِ نه وائی چه څه خپل مال په دے شرط باندے خرڅوم چه ته خپل مال په ما باندے په دومره پیسو خرڅ کړے۔

❖ سودا کښے د قرض شرط اونه اولګولے شي مثلاً داسے دِ نه وائی چه زه په دے شرط باندے مال خرڅوم چه ته ماله دومره روپئے قرض راکړے۔

# معاشرت

معاشره وائی دحقونو او دادابو ادائیګئ ته. اسلام د معاشرے د مختلفو موقعو مختلف احکام او اداب بیان کړی دی.

## نکاح

## (Marriage)

دَ نکاح لغوی معنیٰ دوه خیزونه ملاوول او جمع کول دی او د شریعت په اصطلاح کښے د نکاح نه مراد هغه معاهده ده کومه کښے چه سړے او ښځه په خپلو کښے تړلی شوی وی۔

### د نکاح فضیلت

نبی علیه السلام فرمائیلی دی چه نکاح څما سنت دے (ابن ماجه) ګویا نکاح کول سنتِ نبوی ﷺ ژوندی کول دی۔

## د نکاح شرطونه

نکاح ترلو د پاره د دے شرطونو موجودوالے ضروری دے۔
(۱)ایمان(۲) منکوحه دِ غیر محرمه وی(۳) شهادت(د دوؤ گواهانو موجودگی)
(٤) مهر(٥) رضا.

**د نکاح رکن:** ایجاب او قبول۔

# طلاق

## (Divorce)

د طلاق لفظی معنیٰ ده ترونے (غوته) پرانستل ۔ او په شریعت کښے دَ نکاح غوټے او تړونی پرانستلو ته طلاق وائی۔طلاق خوښ څیز نه دے :په حدیث کښے دی چه د اللّٰه تعالیٰ په نزد په حلالوڅیزونو کښے د ټولو نه زیات ناخوښه او قابلِ ملامت څیز طلاق دے۔
(ابن ماجه)

گویا حتی الامکان د طلاق نه ځان ساتل پکار دی ۔ که بیا هم هیڅ چاره نه وی نو طلاق ورکول جائز دی۔

## د طلاق قسمونه او دَ هغے حکم

د طلاق درے قسمونه دی:
(۱) طلاقِ رجعی (۲)طلاقِ بائن (۳)طلاقِ مُغَلَّظ

## (۱) طلاقِ رجعي

طلاق رجعي هغه طلاق ته وائي په كوم كښې چه سړے رجوع كولے شي يعنې د يو يا دوؤ طلاقو وركولو نه پس په عدت (يعنې درے حيضونو) كښې دننه دننه رجوع كولو سره ښځه د نكاح نه نهٔ اوځي۔

## (۲)طلاق بائن

او كه چرے دغه عدت كښې دننه دننه رجوع اونه كړے شوه او دريم طلاق هم ورنه كړے شو نو عدت (درے حيضه) ختميدلو نه پس نكاح ماته شي۔ (د دے طلاق نه پس د نكاح تجديد يعنې دوباره نكاح تړلونه پس سړے بيا دغه ښځه خپله ښځه جوړولے شي)۔

## (۳) طلاقِ مُغَلَّظ

**طلاق مُغَلَّظ** دے ته وائي چه سړے درے طلاقه په يو ځل يا بيل بيل وركړي ۔ د دے نه پس چي ښځے تر څو پورے دبل خاوند سره نكاح او هم بستري نه وي كړي او هغه ورله په خپله رضا طلاق نه وي وركړے نو تر هغے ښځه داولني خاوند حلاله نه ده اګر هغه ورسره دوباره نكاح هم وكړي.

## د چا طلاق واقع کیږی او د چا نه واقع کیږی

(۱)طلاق سړے ورکولے شی ښځه طلاق نشی ورکولے ۔ طلاق د پاره دا شرط دے چه طلاق ورکولو والا عاقل بالغ وی ، که چرے یو نابالغ یا پاګل یا اوده سړی طلاق ورکړو نو طلاق به واقع نشی۔

(۲) که چرے چا د نشے په حالت کښے طلاق ورکړو نو هم به طلاق واقع شی۔(۳) د کوم مریض چه هوش او حواس په ځائے نه وی نو د هغه طلاق نه واقع کیږی(٤) که یو سړے په صریح الفاظو کښے طلاق ورکړی خواه که په ټوقه او مذاق کښے ورکړی یا سنجیدګئ سره یا غصه کښے ورکړی نو په هر صورت کښے به طلاق واقع شی ۔ البته که چرے د اِشارے او کنایے الفاظ ئے استعمال کړل نو د نیت نه بغیر به طلاق نه واقع کیږی۔ (او که نیت ئے دَ طلاق وو نو بائن طلاق به واقع شی۔مترجم)

## د طلاق ورکولو صحیح طریقه

په هغه طُهر (یعنی پاکئ) کښے یو طلاق ورکول پکار دی کوم کښے ئے چه جماع نه وی کړے ۔ او بیا درے حیضو یا د حمل زیګون پورے بل طلاق ورنه کړے شی نو عدت (یعنی درے حیضه) پوره کیدلو نه پس به ښځه بخپله حرامه شی یعنی بائن طلاق به پرے واقع شی۔

# دشرعی لباس اور پردی شرطونه او اصول

## قاعده:لباس او جامه کښې پنځه څیزونه ضروری دی:

(۱)پرده دار یعنی چې عورت پټ کړی(۲)لباس د زینت والا وی یعنی خراب هیئت والا نه وی چې د نفرت او کراهت سبب جوړیږی (۳)دیو کافرقوم مذهبی شعار نه وی(٤) د سړو دپاره دښځو او د ښځو دپاره دسړو پشان لباس اغوستل جائز نه دی(٥)حرام به نه وی لکه سړو دپاره ریښمی لباس.

## تفصیل

(۱)جامه به داسی وی چه دسر نه خپو پوری ټول بدن پټ وی (۲)دومره نرئ به نه وی چه دننه بدن تری ښکاری (۳) دومره لنډ اوتنګ به نه وی چې د پټو اندامونو عکاسی کوی(٤) دښځو جامې به دسړو سره مشابه نه وی او د سړو جامې به د ښځو سره مشابه نه وی(٥)دکافرو او فاسقو سړو ښځو سره به مشابه نه وی(٦)دفخر او غرور او دتکبر دپاره به نه وی (۷) د زنانو جامه او برقعه به داسی خائسته او دلکش نه وی چې د خلقو نظر ځان ته راکاږی (۸)جامه کښې به اسراف او تبذیر نه وی بلکه د خپل وس مناسب به وی (۹)دزنانو دپاره شرط دا هم دے چې خوشبوداره جامه به نه وی.

# جهاد

## (Jihad)

د جهاد لغوی معنیٰ ده کوشش کول۔ او په شریعت کښے دالله په لاره کښے جنګیدلو ته جهاد وائی۔

## د جهاد فضیلت

نبی علیه السلام فرمائی:په ټولو عملونو کښے دټولونه اوچته درجه دجهاد فی سبیل الله ده .(مشکوٰة)

**دجهاد مراتب:** دجها دڅلور مراتب دی:

(۱) نفس سره جهاد (۲) شیطان سره جهاد(۳) کفار او منافقانو سره جهاد (٤) ارباب ظلم او فسق وفجور والوسره جهاد۔

## دنفس سره دجهاد څلور مرتبی دی

(۱)دحق دین علم حاصلول (۲) په هغی عمل کول (۳) د هغی دعوت ورکول (٤) دهغی په لار کښے تکلیفونه برداشت کول ۔

## دشیطان سره دجهاد دوه مرتبی دی

(۱) دشیطان د طرف نه د راتلونکی شکوکو او شبهاتو مقابله کول (۲) دشیطان د طرف نه د راتلونکے غلطو ارادو او شهواتو مقابله کول۔

## دكفارو او منافقانو سره دجهاد څلورمرتبې دي

(۱) په زړه سره جهاد کو ل(۲) په ژبه سره جهاد کول (۳) په مال سره جهاد کول (٤) په نفس (جان) سره جهاد کول ـ

## ظالمانو او فاسقانو مبتدعينو او ظالمانو سره جهاد درې مرتبې دي

(۱) په لاس سره جهاد کول (۲)په ژبه سره جهادکول(۳) په زړه سره جهاد کول ـ

## دکافرو سره دجسمانی جهاد اقسام باعتبار دفرضيت

**د جهاد قسمونه :** دوه دي .

(۱)فرضِ عَين (۲) فرضِ کفايه(د فرضِ عَين صورتونه) :

**دفرضِ عَين صورتونه:** الف: هرکله چه يو طاقتور دشمن په يو اسلامی ملک باندے يا د هغے په يوه خاص حصه باندے حمله اوکړی يا د حملے کولو قوی امکان وی او د ملک سربراه يا د اسلام سربراه د عام جنګ اعلان اوکړی نو هغه وخت په هر بالغ سړی باندے د هغے مقابلے کولو د پاره وتل فرض کيږی۔

ب: په کوم ملک يا علاقه کښے چه د کمزورو کسانو،دښځو او د ماشومانو ځان او مال او عزت او آبرو محفوظه پاتے نشی او ناحقه په هغوی باندے د ظلمونو ميچنے تاوولے شی نو د ظالمانو خلاف اقدام کول (مقابلے له وتل) فرض عين دی۔

(ج) دریم صورت د یو دائمی او اقدامی جهاد دے ۔ دا صورت تر هغه وخته پورے قائم دے تر څو پورے چه جارح باطل قوتونه په ګاونډ کښے موجود وی۔

**د فرض کفایه صورتونه :** دَ فرض کفایه جهاد مطلب دا وی چه غیر معمولی هنګامی صورتِ حال نه وی لیکن بالفعل بالکل پرامن حالات هم نه وی بلکه دَ دشمن سازشونه او شرارتونه باقی وی ۔ په دے صورتِ حال کښے که چرے څه خلق هم په دے مهم باندے دَ ځان او مال قربانئ د پاره تیار اوسی نو دَ عامو خلقو د غاړے نه به په جهاد کښے دَ نه شریکیدلو ګناه لرے شی۔ لیکن د دے مطلب دا نه دے چه په باقی خلقو باندے جهاد فرض نه دے ۔ فرض خو په ټولو باندے دے ۔ بس فرق دا دے چه دَ فرض عین صورت کښے براه راست د هر سړی شرکت(که چرے شرعی یا طبعی عذر نه وی نو)ضروری دے څنګه چه مونځ او روژه ضروری ده ۔ او په فرضِ کفایه کښے به د څه خلقو شرکت سره هم دا فرض ادا شی۔

## جهاد په کومو خلقو باندے فرض دے

### د جهاد واجب کیدلو اووه شرطونه دی

(۱) مسلمان کیدل (۲) بالغ کیدل (۳) عاقل کیدل (٤) آزاد کیدل (٥) چه په ده کښے څه جسمانی نقص نه وی (٦) سړے کیدل (۷) د لارے توښه او د جهاد دَ سامان شته والے۔

# دَ مونځ ترجمه

تکبیرِ تحریمه: اَللّٰہُ اَکۡبَرُ الله ډ یر لوئے دے۔

ثنا: سُبۡحَانَکَ اللّٰھمَّ وَبِحَمۡدِکَ وَتَبَارَکَ اسۡمُکَ وَتَعَالٰی جَدُّکَ وَلاَ اِلٰه غَیۡرُکَ ط. اے الله ! ته پاک ئے ، او هم تا د پاره ثنا ده او برکتی دے نوم ستا ، او لوئے دے شان ستا ، او نیشته دے هیڅوك د عبادت لائق سوا تانه۔

تعوذ: اَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط.

د الله پناه کښے راځم د شیطان مردود د شر نه

تسمیه : بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط .

خاص د الله د نوم په مدد سره شروع کوم۔

سورت فاتحه : اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ (۱) اَلرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ (۲) مٰلِکِ یَوۡمِ الدِّیۡنِ (۳) اِیَّاکَ نَعۡبُدُ وَاِیَّاکَ نَسۡتَعِیۡنُ (۴) اِھۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِیۡمَ (۵) صِرَاطَ الَّذِیۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَیۡھِمۡ (۶) غَیۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَیۡھِمۡ وَلَا الضَّآلِّیۡنَ (۷) آمین۔

د خدائی توب ټول تعریفونه خاص الله د پاره دی څوك چه د ټولو مخلوقاتو پالونکے دے ۔ څوك چه عام او خاص مهربان دے ۔ د قیامت د ورځے مالک دے۔ (اے پروردګاره!) مونږ صرف ستا عبادت کوؤ او صرف تانه مدد غواړو ۔ مونږ په نیغه لاره روان کړے ۔ د هغه خلقو لاره چا باندے چه تا انعام او احسان کړے

دے ۔ نه د هغه خلقو لاره چا باندے چه غضب کړے شوے
دے او نه دَ هغه خلقو چه ګمراهان دی زمونږ دعا قبول کړه۔

سورت اخلاص: قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ (۱) اَللّٰهُ الصَّمَدُ (۲) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ (۳) وَلَمْ يَكُنْ لَّه كُفُوًا اَحَدٌ (۴)

اوایه چه الله یو دے ۔ الله بے نیازه دے ۔ نه دهغه نه څوك پیدا دی او نه هغه د چا نه پیدا دے ۔ او هیڅوك د هغه سیال نیشته۔

د رکوع تسبیح : سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ (کم ازکم درے پیرے) پاک دے ځما رب چه د لوئے شان والا دے۔

یا سُبُّوْحٌ قُدُّوْسٌ رَبُّ الْمَلٰٓئِكَةِ وَالرُّوْحِ۔

زیات پاکیزګی او تقدیس والا دے او د ملائکو او د روح پروردګار دے.

یا سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ۔

اے زمونږ الله ستا ذات پاك دے د الوهیت صفتونه هم ستا دپاره دی اے الله ! ما معاف کړه.

تسمیع: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَه.

الله واوریده د هغه چا چه د هغه تعریف ئے اوکړو۔

تحمید: رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ اے زمونږه ربه ثنا تا د پاره ده۔

یا رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ۔

اے زمونږ ربه! ستا د پاره حمد دے ډیر پاك او د برکت والا حمد.

د سجدے تسبیح: سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی(کم از کم درے پیرے) پاک دے رب څما چه ډیر اوچت دے۔

سُبْحَانَکَ اللّٰھُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِکَ، اَللّٰھُمَّ اغْفِرْلِیْ۔

اے زموږ الله! ستا ذات پاك دے. دالوهیت ستا دپاره دی. اے الله! ما معاف کړه.

دجلسے دعا: اَللّٰھُمَّ اغْفِرْلِیْ وَارْحَمْنِیْ وَارْفَعْنِیْ وَاجْبُرْنِیْ وَعَافِنِیْ وَاھْدِنِیْ وَارْزُقْنِیْ۔

یا الله زما لغزشونه معاف کړه او په ما رحم وکړه ما ته ترقی راکړه او زما کمزورئی لرے کړه،ماته عافیت راکړه.ماته هدایت وکړه او ماته روزی راکړه.

یا: رَبِّ اغْفِرْلِیْ، رَبِّ اغْفِرْلِیْ۔

اے زما ربه! زما مغفرت اوکړه . اے زما ربه! زما مغفرت اوکړه .

تشهد: اَلتَّحِیَّاتُ لِلّٰه وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّیِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَیْکَ اَیُّھَا النَّبِیُّ وَرَحْمَةُ اللّٰه وَبَرَکَاتُه اَلسَّلَامُ عَلَیْنَا وَعَلٰی عِبَادِ اللّٰه الصَّالِحِیْنَ اَشْھَدُ اَنْ لَّآ اِلٰه اِلَّا اللّٰه وَاَشْھَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُہ وَرَسُوْلُه۔

ټول قولی عبادتونه ،او بدنی عبادتونه او مالی عبادتونه خاص الله د پاره دی۔ سلام دِ وی په تا باندے اے پیغمبره ﷺ او رحمت د الله دِ وی او برکتونه د هغه۔ سلام دِ وی په مونږه او د الله په نیکو بندګانو باندے ۔ زه اقرار کوم چه د الله نه سوا هیڅوك د

عبادت لائق نیشته او اقرار کوم چه محمد ﷺ د الله تعالیٰ بنده او د هغه رسول دے۔

درورد شریف: اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی اِبْرَاھِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاھِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ ۔ اَللّٰھُمَّ بَارِکْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَا بَارَکْتَ عَلٰی اِبْرَاھِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاھِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ۔

اے الله! رحمتونه نازل کړے په حضرت محمد ﷺ باندے او په آل د حضرت محمد ﷺ باندے څرنګ چه تا خصوصی رحمتونه نازل کړی دی په حضرت ابراهیم علیه السلام باندے او په آل د حضرت ابراهیم علیه السلام باندے بیشکه ته د تعریفونو لائق او ستائیلے شوے ئے۔

اے الله! برکت نازل کړے په حضرت محمد ﷺ باندے او په آل د حضرت محمد ﷺ باندے څرنګ چه تا برکتونه نازل کړی دی په ابراهیم علیه السلام باندے او په آل د حضرت ابراهیم علیه السلام باندے بیشکه ته د تعریفونو لائق او ستائیلے شوے ئے۔

دعا: اَللّٰھُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّفِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ۔

اے زمونږه ربه! راکړے مونږ ته په دنیا کښے توفیق د نیکئ او په آخرت کښے بدله دنیکئ او مونږد دوزخ د عذاب نه اوساتے۔

یا اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ ظَلَمۡتُ نَفۡسِیۡ ظُلۡمًا کَثِیۡرًا وَلَا یَغۡفِرُ الذُّنُوۡبَ اِلَّا اَنۡتَ فَاغۡفِرۡلِیۡ مَغۡفِرَۃً مِنۡ عِنۡدِکَ وَارۡحَمۡنِیۡ اِنَّکَ اَنۡتَ الۡغَفُوۡرُ الرَّحِیۡمُ۔

یا الله ما په ځان ډیر ظلم کړے دے، ګناهونه ستا نه سوا بل څوک بخونکے نشته پس ماته د خپل طرف نه مغفرت راکړه او رحم راباندے وکړه، بے شکه ته بخنه کونکے او مهربان یئے.

سلام : اَلسَّلَامُ عَلَیۡکُمۡ وَرَحۡمَۃُ اللّٰه

په تاسو دِ د الله تعالیٰ سلام او رحمت وی۔

دعائےقنوت: اَللّٰهمَّ اِنَّا نَسۡتَعِیۡنُکَ وَنَسۡتَغۡفِرُکَ وَنُؤۡمِنُ بِکَ وَنَتَوَکَّلُ عَلَیۡکَ وَنُثۡنِیۡ عَلَیۡکَ الۡخَیۡرَ ط وَنَشۡکُرُکَ وَلاَ نَکۡفُرُکَ وَنَخۡلَعُ وَنَتۡرُکُ مَنۡ یَفۡجُرُکَ ط اَللّٰهمَّ اِیَّاکَ نَعۡبُدُ وَلَکَ نُصَلِّیۡ وَنَسۡجُدُ وَاِلَیۡکَ نَسۡعٰی وَنَحۡفِدُ وَنَرۡجُوۡا رَحۡمَتَکَ وَنَخۡشٰی عَذَابَکَ اِنَّ عَذَابَکَ بِالۡکُفَّارِ مُلۡحِقٌ۔

اے الله! مونږ تا نه مدد غواړو ، او تانه بخښنه غواړو، او په تا باندے ایمان لرو او ستا ښه نه ښه تعریف کوؤ۔ او ستا شکر ګذارئ کوؤ او ستا ناشکری نه کوؤ، او مونږ جدا کیږو او مونږ پریږدو هغه څوك چه ستا نافرمانی کوی۔ اے الله! مونږه صرف ستا عبادت کوؤ او ستا طرفته درمنډه وهو او په تیزئ درزُو۔ او ستا د رحمت امید لرو او ستا د عذاب نه ویریږو، بیشکه ستا عذاب په کافرانو پورے انختونکے دے۔

یا دا دعا ووایه

**اَللّٰهمَّ اهدِنِیْ فِیْمَنْ هدَیْتَ وَ عَافِنِیْ فِیْمَنْ عَافَیْتَ وَ تَوَلَّنِیْ فِیْمَنْ تَوَلَّیْتَ وَبَارِکْ لِیْ فِیْمَا اَعْطَیْتَ وَقِنِیْ شَرَّ مَا قَضَیْتَ فَاِنَّکَ تَقْضِیْ وَلَا یُقْضیٰ عَلَیْکَ اِنَّه لَا یَذِلُّ مَنْ وَالَیْتَ وَلَا یَعِزُّ مَنْ عَادَیْتَ تَبَارَکْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَیْتَ۔**

ترجمه: یا الله ! په هغو کسانو کښے ماته هم هدایت وکړه چې تاور ته هدایت کړے دے او په هغه کسانو کښے ماته هم عافیت راکړے چې تا ورته عافیت ورکړے دے او په هغه کسانو کښی ما هم محفوظ کړه چې تامحفوظ کړی دی او څه چې دے راکړی په هغه کښے راته برکت واچوه او دهغی دشر نه می وساته څه چې تا فیصله کړی دی ځکه هم ته فیصله کونکی ئی او ستا د فیصلی خلاف څوك فیصله کونکی نشته۔ چې ته له چا سره دوستی وکړی هغه به خوارنشی اوله چا سره چې دښمنی وکړی هغه به عزتمند نه شی ته برکت والا ذات ئی ، او د لوئی ذات ئی اے زمونږ پروردګاره۔ستا د عذاب نه صرف هم تا سره د پناه شته.

# مسنون دعاګانے

ذکر او دعا په عبادتونو کښے اهم عبادت دے۔ قرآن پاک کښے چه د ذکر او دعا کوم الفاظ وارد شوی دی او د حدیث په کتابونو کښے چه د حضور اکرم ﷺ د ژبے مبارکے نه د ذکر او دعا کوم الفاظ منقول دی که چرے تاسو هغه د زړه په حاضروالی سره، د خپلے ژبے نه ادا کوئ نو د هغے په یو یو لفظ کښے به تاسو ته د خپل زړه ترجمانی ، د خپلو حالاتو نمائندګی او د پریشانئ او بے قلارئ په حالت کښے د زړه د اطمینان سامان ملاؤ شی۔

په هغے کښے به تاسو ته د ډیرو داسے داخلی او خارجی ضرورتونو ذکر ملاؤ شی کومو طرفته چه په اسانئ سره د هر انسان ذهن نه منتقل کیږی۔ لهٰذا هر مسلمان له پکار دی چه د دے مسنون دعاګانو پابندی اوکړی۔

**د دعا د قبولوالی شرائط او آداب :** د دعا په سلسله کښے د یو څو آدابو او شرطونو لحاظ ساتل ضروری دی:

(۱) خپل معمولی نه معمولی جائز ضرورت د پاره هم الله تعالیٰ نه سوال کول پکار دی ۔ لیکن د یو داسے څیز د پاره دعا کول نه دی پکار کوم ته چه شریعت معصیت (ګناه) وئیلے وی یا هغے سره د چا حق تلفی یا چا باندے ظلم یا چا سره تعلق قطع کول راځی۔

(۲) دویم شرط دا دے چه د دعا کونکی ذریعه معاش دِ حلال وی ، د حرامو ګډ ون پکښے نه وی۔(۳) دریمه ضروری خبره دا خیال ساتل پکار دی چه که چرے دعا سره د ده حاجت نه پوره کیدلو یا د دے په نتیجه کښے تاخیر کیدلو نو زړه تنګئ سره دعا پریښودل نه دی پکار کیدے شی چه د ده څه کوتاهئ په وجے سره دا تاخیر کیږی۔

**د دعا آداب:** (۱)دعا کونکی له پوره عزم او یقین سره دعا کول پکار دی۔(۲) حتی الامکان دعا په ښه اود دلجمعی په اوقاتو کښے کول پکار ده ۔ حضور ﷺ چه په کومو اوقاتو کښے د دعا تلقین فرمائیلے دے هغه بے شماره دی۔ د یو څو خاصو اوقاتو ذکر دلته کولے شی۔

*د فرض مونځونو نه پس *د تهجدو په وخت کښے

*د سفر په حالت کښے *د اذان او اقامت په مینځ کښے

*د جُمعے په ورځ د مازیګر نه روستو تر ماښامه پورے

*په شب قدر کښے خاص طور سره د رمضان المبارک په اویشتمه (۲۷) شپه کښے

*دَ جمعے په شپه کښے یعنی د زیارت ورځ تیریدلو نه پس چه کوم شپه راځی۔

(۳) په دعا کښے لاس پورته کول پکار دی او دعا کولو نه پس دواړه لاسونه په مخ باندے راښکل پکار دی ۔ (٤) څومره پورے چه ممکن وی داسے دعاګانے کول پکار دی کومے چه د دنیا او آخرت دواړو ښیګړو د پاره جامع وی ۔(۵) د خپل څه نیک عمل واسطه ورکولو سره

دعا کول بهتر دی۔(٦) پاک صاف کیدلو نه پس قبلے طرفته مخ کولو سره دعا کول۔(٧) د الله حمد او ثنا او درود شریف وئیلو نه پس دعا کول پکار دی۔

## د نبی کریم ﷺ د ژبے مبارکے نه وتلے شوے

یوڅو جامع دعاګانے دا دی

د اوده کیدلو دعا : اَللّٰهُمَّ بِاسْمِکَ اَمُوْتُ وَاَحْیٰی۔

دَ بیداریدلو دعا : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْیَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَیْهِ النُّشُوْرُ۔

د روټۍ خوړلو دعا : بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

د روټۍ خوړلو نه پس دعا: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ.

بیت الخلاء ته د ورتللو دعا: اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِکَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ

بیت الخلاء نه د وتلو دعا : غُفْرَانَکَ یا اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنِّیَ الْاَذٰی وَعَافَانِیْ ۔

په آئینه کښے د کتلو دعا: اَللّٰهُمَّ اَنْتَ حَسَّنْتَ خَلْقِیْ فَحَسِّنْ خُلُقِیْ

د جامو اغوستلو دعا : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ کَسَانِیْ هٰذَا وَرَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ ۔

کور نه د وتلو دعا: بِسْمِ اللهِ تَوَکَّلْتُ عَلَی اللهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ.

کور ته د داخلیدلو دعا : اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُکَ خَیْرَ الْمَوْلَجِ وَخَیْرَ

الْمَخْرَجِ بِسْمِ اللهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللهِ خَرَجْنَا وَعَلَى اللهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا ط

جومات ته د داخلیدلو دعا : اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ

جومات نه د بهر وتلو دعا: اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ وَرَحْمَتِكَ

د اذان نه پس دعا: اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّآمَّةِ وَالصَّلٰوةِ الْقَآئِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَانِ الَّذِيْ وَعَدْتَّهُ۔

بازار کښې د داخلیدلو دعا : لَآاِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لاَّ يَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرِ ط وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ۔

مجلس نه د پاڅیدلو دعا : سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لاَّ اِلٰهَ اِلاَّ اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ۔

د سفر دعا : بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ يا اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَفِيْقِيْ فِيْ سَفَرِيْ وَ خَلِيْفَتِيْ فِيْ اَهْلِيْ وَمَالِيْ ط.

د سورلئ دعا: سُبْحٰنَ الَّذِيْ سَخَّرَلَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِيْنَ ط وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ.

دَ پرنجی(اینګی) دعا : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

د اینګی دے دعا وئیلو نه پس دِ اوریدونکے دا جواب ورکړی يَرْحَمُكَ اللهُ.

د میاشتے لیدلو دعا : اَللّٰهُ اَکۡبَرُ ، اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهٗ عَلَیۡنَا بِالۡاَمۡنِ وَالۡاِیۡمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالۡاِسۡلَامِ رَبِّیۡ وَرَبُّکَ اللّٰهُ ؕ.

دتعزیت دعا : اِنَّ لِلّٰهِ مَا اَخَذَ وَلَهٗ مَا اَعۡطٰی وَکُلَّ شَیۡءٍ عِنۡدَهٗ بِاَجَلٍ مُّسَمًّی۔[بخاری و مسلم]

قبرستان ته د تللو دعا : اَلسَّلَامُ عَلَیۡکُمۡ یَا اَهۡلَ الۡقُبُوۡرِ یَغۡفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَکُمۡ اَنۡتُمۡ سَلَفُنَا وَنَحۡنُ بِالۡاَثَرِ ؕ.

## د سحراوما ښام لوستلو دعاګانے

- بِسۡمِ اللّٰهِ الَّذِیۡ لَا یَضُرُّ مَعَ اسۡمِهٖ شَیۡءٌ فِی الۡاَرۡضِ وَلَا فِی السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِیۡعُ الۡعَلِیۡمُ ؕ
- اَللّٰهُمَّ اَجِرۡنِیۡ مِنَ النَّارِ۔
- رَضِیۡتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّ بِالۡاِسۡلَامِ دِیۡنًا وَّ بِمُحَمَّدٍ نَّبِیًّا.
- اَصۡبَحۡنَا وَاَصۡبَحَ الۡمُلۡکُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَسۡئَلُکَ خَیۡرَ هٰذَا الۡیَوۡمِ فَتۡحَهٗ وَنَصۡرَهٗ وَنُوۡرَهٗ وَبَرَکَتَهٗ وَهُدَاهُ وَاَعُوۡذُبِکَ مِنۡ شَرِّ مَا فِیۡهِ وَشَرِّ مَا بَعۡدَهٗ۔
- اَللّٰهُمَّ اَعِنِّیۡ عَلٰی ذِکۡرِکَ وَشُکۡرِکَ وَحُسۡنِ عِبَادَتِکَ ؕ
- یَا مُصَرِّفَ الۡقُلُوۡبِ صَرِّفۡ قَلۡبِیۡ اِلٰی اِطَاعَتِکَ ؕ
- یَا مُقَلِّبَ الۡقُلُوۡبِ ثَبِّتۡ قَلۡبِیۡ عَلٰی دِیۡنِکَ ؕ
- اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُبِکَ مِنَ الشِّقَاقِ وَالنِّفَاقِ وَسُوۡءِ الۡاَخۡلَاقِ ؕ

ایما ن مفصل :

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ ط

ایمان مجمل :

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ كَمَا هُوَ بِاَسْمَآئِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَقَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحْكَامِهٖ اِقْرَارٌ بِاللِّسَانِ وَتَصْدِيْقٌ بِالْقَلْبِ ط

کلمہ طیبہ :

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

کلمہ شہادت:

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط

کلمہ تمجید:

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ ط وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ط

کلمہ توحید :

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرِ ط وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ط

کلمہ استغفار:

اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ط وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ ط

## دعا صلوٰۃ حاجت

لَا اِلٰہَ اِلَّااللّٰہُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ سُبْحَانَ اللہِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ وَالْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ اَسْئَلُکَ مُوْ جِبَا تِ رَحْمَتِکَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِکَ وَالْغَنِیْمَۃَ مِنْ کُلِّ بِرٍّ وَالسَّلَا مَۃَ مِنْ کُلِّ اِثْمٍ لَا تَدَعْ لِیْ ذَنْباً اِلَّا غَفَرْ تَہٗ وَلَا ھَمًّااِلاَّ فَرَّجْتَہٗ وَلَا حَاجَۃً ھِیَ لَکَ رِضًا اِلاَّ قَضَیْتَھَا یَااَرْحَمَ الرَّا حِمِیْنَ۔

## دعا استخارہ

اَللّٰھُمَّ اِنِّیْ اَسْتَخِیْرُ کَ بِعِلْمِکَ وَاَسْتَقْدِ رُکَ بِقُدْرَ تِکَ وَأَسْئَلُکَ مِنْ فَضلِکَ الْعَظِیْمِ فَاِنَّکَ تَقْدِرُوَ لاَ اَقْدِرُ وَتَعْلَمُ ولَا اَعْلَمُ وَاَنْتَ عَلَّا مُ الْغُیُوْبِ ہ اَللّٰھُمَّ اِنْ کُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ ھٰذَ الْاَ مْرَ خَیْرٌلِّیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَا قِبَۃِاَمرِی (اَوْ قَالَ فِیْ عَاجِلِ اَمْرِیْ وَاٰجِلِہٖ )فَاقْدِرْہُ لِیْ وَیَسِّرْہُ لِیْ ثُمَّ بَارِکْ لِیْ فِیْہِ وَاِنْ کُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ ھٰذَ الْاَ مْرَ شَرٌّ لِّیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَۃِ اَمْرِیْ (اَوْ قَالَ فِیْ عَاجِلِ اَمْرِیْ وَاٰجِلِہٖ) فَا صْرِفْہُ عَنِّیْ وَاصْرِ فْنِیْ عَنْہُ وَاقْدِرْلِیَ الْخَیْرَ حَیْثُ کَانَ ثُمَّ اَرْضِنِیْ بِہٖ۔